

# د افغانستان د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې د مسودې خپلواکه بیا کتنه

د منابعو، تخصیصاتو او عامه مالي مدیریت یو انځور

د ۲۰۱۵ کال د دسمبر میاشت

EPD EQUALITY for Peace and Democracy

# د مطالبو نوم لړ


**د مطالبو نوم لړ ........ ۲**

**لنديزونه........ ۳**

**ستاينه او کورودانی ........ ٤**

**۱. سريزه ........ ٥**

۱،۱ کرنلارې ........ ٥

**۲. د ۱۳۹۵ کال ملي بودجې ته يوه لنډه کتنه ........ ٥**

۲،۱ اټکل شوې منابع ........ ٦

*داخلي عوايد* ........ ٦

........ ٦

۲،۲ د ۱۳۹۵ کال اټکل شوي تخصيصات ........ ۷

........ ۷

*عادي بودجه* ........ ۷

*انکشافي بودجه* ........ ۷

۲،۳ د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو د بودجو پرتله کول........ ۸

**۳. مالي ثبات ........ ۹**

۳،۱ داخلي عوايد........ ۹

۳،۲ عمليات او حفظ و مراقبت........ ۱۲

۳،۳ د بودجې تطبيقول ........ ۱۳

۳،٤ د مرسته کونکو ادارو ونډه او د لزوم ديد صلاحيت ........ ۱٤

**٤. د عامه مالي چارو مديريت او اصلاحات........ ۱٥**

٤،۱ روڼتيا او حساب ورکول........ ۱٦

٤،۲ پر نتيجو ولاړ پروګرام بودجه ترتيبول، څارنه او ارزونه........ ۱۸

٤،۳ د ولايتي بودجې ترتيبول ........ ۱۹

٤،٥ د جندر چارو ته ځواب ويونکي بودجې ترتيبول ........ ۲۰

٤،٦ د مدني ټولنې ګډون........ ۲۲

**٥. سپارښتنې ........ ۲۳**

حکومت ........ ۲۳

*مالي پاينبت* ........ ۲۳

*د عامه مالي چارو مديريت او اصلاحات* ........ ۲٤

نړيوال مرسته کونکي ........ ۲٥

د مدني ټولنو سازمانونه ........ ۲٦

# لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ACTA | د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره افغاني ایتلاف |
| AFMIS | د افغانستان د مالي امورو د مدیریت معلوماتي سیستم |
| AFN | افغانۍ (پولي واحد) |
| ANDS | د افغانستان ملي انکشافي ستراتژي |
| ANSF | د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه |
| ARTF | د افغانستان د بیارغونې د مرستې مالي صندق |
| AGO | لویه څارنوالي |
| BC | د بودجې متحدالمال |
| BU | بودجوي واحد |
| BRT | د سوداګریزو رسیدونو مالیه |
| CBR | د نتایجو لپاره د ظرفیت لوړول |
| CSO | د مدني ټولنو سازمانونه |
| DAD | د انکشافي مرستو د معلوماتو زیرمه |
| DCD | د انکشافي همکاریو خبرې اترې |
| DG | عمومي رئیس |
| EPD | د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه |
| FDWG | د مالي عدم تمرکز کاري ډله |
| FY | مالي کال |
| GDP | ناخالص ملي تولید |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| GPMES | په حکومتي سطحه د څارنې او ارزونې سیستم |
| HOO | د څارنې او فساد پر وړاندې د مبارزې اداره |
| IDLG | د محلي حکومتونو خپلواک ریاست |
| ISAF | د امنیت لپاره نړیواله مرسته |
| MAIL | د کرهنې، آوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MDG | د زریزې انکشافي هدف |
| MoEd | د ښوونې او روزنې وزارت |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoMP | د کانونو او پټرولیمو وزارت |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت |
| MTBF | د منځمهالي بودجې چوکاټ |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان |
| NPA | د تدارکاتو ملي اداره |
| NPC | د تدارکاتو ملي کمیسیون |
| NPP | د ملي لمړیتوبونو پلان |
| O&M | عملیات او حفظ و مراقبت |
| OBI | د څرګندې بودجې شاخص |
| OBS | د څرګندې بودجې سروې |
| PFEM | د عامه مالي چارو او لګښتونو مدیریت |
| PFM | د عامه مالي چارو مدیریت |
| PFMR | د عامه مالي چارو د مدیریت کرڼلاره |
| PPU | د تدارکاتو د پالیسۍ دفتر |
| SAO | د تفتیش عالي اداره |
| SBPS | د دولتي بودجې د پلانولو سیستم |
| SDG | د پابنت لرونکي انکشاف هدف |
| SIGAR | د افغانستان د بیا رغونې د چارو د څارنې عمومي مفتش |
| SIGTAS | دولتی مالیات د هر اړخیزو معیاراتو د اداري سیستم |
| SMP | د پروګرام د نظارت هئیت |
| TASC | د تخنیکي مرستو د مشرتابه کمیسیون |
| TMAF | د توکیو د متقابل حساب ورکولو چوکاټ |
| USD | امریکایي ډالر (پولي واحد) |
| VAT | د علاوه شوي ارزښت مالیه |

## ستاینه او کوروداني

د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه تر هر څه د مخه په پراخه کچه غواړي د افغانستان د حکومتي کارکونکو او د عامه مالي چارو د مدیریت د کارپوهانو څخه چې د هغوی د نظرونو څخه د کار اخستنې پرته د دې پروژې عملي کیدل شوني نه وو منته کوي. مونږ همدارنګه غواړو له موریتز رید او میری هوبر او د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د کارکونکو څخه چې د دې راپور د تیارولو په برخه کښې یې مرسته کړې منته کوي.

# ۱. سریزه

د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره افغاني ایتلاف (ACTA) د پلاتفورم له لارې، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د حکومتي منابعو د توزیع او خدماتو د عرضه کولو د څارنې لپاره د ملي د بودجې څخه د څارنې د یوې وسیلې په توګه کار اخستی دی. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د ملي بودجې یوه کلنۍ بیا کتنه تر سره کوي، چې دا کار په ۱۳۹۱ پیل شوی دی، تر څو ملي شورا ته د ملي بودجې د بیا کتنې لپاره اړین معلومات تیار کړای شي. دا بهیر د ملي بودجې د پلان جوړونې، تطبق، څارنې او ارزونې په اړه د مدني ټولنې له نظره یو انځور برابروي.

د دې کلنۍ پروژې له لارې، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې موخه داده، چې د بودجې یوه ساده او منطقي بیا کتنه وړاندې کړي تر څو خلک وکولای شي په بودجه او د هغوی د ورځیني ژوند کښې د هغې د اغیز په معنا پوه شي چې هغه مطالعه کړي او د تخصیص شوو منابعو په پرتله د خدماتو څرنګوالی و ویني. د بودجې دا خپلواکه بیا کتنه لازم مفصل معلومات افغان پارلمان ته برابروي تر څو ملي بودجه مطالعه او تصویب کړي. دا بهیر پر دې سربیره د ملي بودجې د پلان جوړونې په اړه د مدني ټولنې له نظره د سپارښتنو د تر لاسه کولو لپاره یو پلاتفورم برابروي. د بودجې د بیا کتنې دا بیړنی انځور د هغې عمومي لنډیز یوه بیا کتنه ده چې د بوجې سره یو ځای پارلمان ته د دې لپاره استول شوې ده تر څو د بودجې او په نومړي کال کښې د مالي چارو د مدیریت، اصلاحاتو او معیاراتو انکشافات یوه پر وخت بیا کتنه تر سره کړي.

## ۱,۱ کړنلارې

د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې بیا کتنه په دفتر کښې د اساسي بودجې او عامه مالي چارو د مدیریت (PFM) د اصلاحاتو د یوې بیا کتنه څخه لکه څنګه چې د پالیسی په سند کښې طرحه شوې ده پیل او دهغې په متن بحث وشو. په ورته ډول یو پوښتنلیک، ترتیب او د موضوعاتو د څرنګوالي له مخې د مرکو لپاره د مالیې وزارت د بیلو څانګو یعنې د خزاینو عمومي ریاست، د عوایدو عمومي ریاست، د بودجې عمومي ریاست، د ښوونې او روزنې وزارت او د مالي چارو څو نور ملي او نړیوالو کارپوهان باندې و ویشل شول. په مرکزي سطحه د مشورو له لارې د (۱۰) کسانو سره مرکې و شوې. ټولې مرکې و لیکل شوې او یاداشت ترې واخستل شو او تحلیل او تجزیه شوې. د ۱۳۹۵ مالي کال ټول ارقام د ملي بودجې د مسودې څخه اخستل شوي دي او د ۲۰۱۵ کال د نومبر د میاشتې په وروستیو وختو کښې ملي شورا ته لیږل شوي دي. د اسعارو د تبادلې نرخ یعنې یو ډالر د ۶۳ افغانیو سره معادل په نظر کښې نیول شوی دی او دا هغه نرخ دی چې په ملي بودجه او هغه فیصدۍ چې په راپور کښې یې یادونه شوې ده یو نژدې ثابت عدد په بڼه راوړل شوي دي.

## ۲. د ۱۳۹۵ کال ملي بودجې ته یوه لنډه کتنه

د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره وړاندیز شوې بودجه (۴۶۱,۸۳۴) میلیارده افغانۍ (۷,۳۳۱) میلیارده امریکایي ډالره ده، چې د ۱۳۹۴ کال د بودجې (۴۳۶,۱۷۳) میلیارده افغانیو (۷,۶۵۲) میلیارده امریکايي ډالرو په پرتله ۶ سلنه لوړه ده[۱]. ملي بودجه د داخلي عوایدو، نړیوالو مرستو او پورونو له لارې تمویل شوې ده. د ۱۳۹۵ کال داخلي عواید (۱۲۷,۵۸۵) میلیارده افغانۍ یعنې (۲,۰۳) میلیارده امریکایي ډالره وو، چې د ملي بودجې ۲۸ سلنه جوړوي. د ۱۳۹۵ کال لپاره، نړیوالو مرسته کوونکو د ۳۱۴,۲۶۱ میلیارده افغانیو (۴,۹۸) میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، چې د ۱۲۹۵ کال د ټولې بودجې ۶۸ سلنه برخه تشکیلوي. پاته (۳,۸۴۰) ملیارده افغانۍ (۶۰,۹۴۹) میلیارده امریکایي ډالره د پور د پیسو څخه پوره شوې ده. په هر حال، (۱۹,۰۶۵) ملیارده افغانیو یعنې (۳۰۲) میلیونه ډالرو کسر شتون لري، چې د ملي بودجې ۴,۱ سلنه جوړوي، چې د ۱۳۹۴ کال د بودجې د ۲ سلنې

---

[۱] د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۵ کال ارقام په امریکایي ډالر بنودل شوي اصلا د افغانۍ د قیمت د را لویدلو له امله ټیټ دي.




شخه لوړ کسر دی. د ۱۳۹۵ مالي کال په بودجه کښې (۲۸۳,۳۲۳) میلیارده افغانی یعنې (۴,۵۰) میلیارده ډالر یعنې د وړانديز شوې ملي بودجې ٦١ سلنه د عادي بودجې لپاره تخصيص شوې ده، او (۱۷۸,۵۱۱) میلیارده افغانی یعنې (۲,۸۳) میلیارده امريکايي ډالره) يعنې ۳۹ سلنه د انکشافي بودجې لپاره تخصيص شوې ده.

۱,۱,۲ چارت: د ۱۳۹۵ کال ملي بودجه

په (میلیارد) افغانی

## ۲,۱ اټکل شوې منابع

### داخلي عواید

د ۱۳۹۵ کال لپاره د دولت د عوایدو هدف (۱۲۷,۵۸۵) میلیارد افغانی (۲,۰۳) امريکايي ډالره) دی. د ماليې وزارت اټکل کړی دی چې ۷۸ سلنه عواید به د ماليو له درکه لاسته راشي. له دې جملې څخه ۱۳ سلنه ثابت ماليات، ۲۴ سلنه پر عوايدو د مالياتو، ۰,۸ سلنه په سرمايه باندې د ماليې، ۲۴ سلنه په اجناسو او خدماتو، ۳۲ سلنه په سوداګرۍ باندې د ماليې او ۷ سلنه د نورو د ماليې وړ عوايدو له لارې اټکل شوې دي. د اټکل شوی چې د کورنيو عوایدو ۲۲ سلنه به د نه مالیاتی عوایدو له لاری ترلاسه شی.

### د بسپنه ورکوونکو ادارو مرستی

د ۱۳۹۵ کال لپاره، نړیوالو مرسته کوونکو ( ۳۱۴,۲٦۱) میلیارده افغانی (۴,۹۸ میلیارده ډالره)، کوم چې د ۱۳۹۵ کال د ټولی بودجې ٦٨ سلنه جوړوي، ژمنه کړې ده. له دې جملې څخه ۱۵۵,۷۳۸ میلیارده افغانی (۲,۴۷۲ ملیارد ډالره) عادي بودجې، ۱۵۴,٦۸۲ میلیارده افغانی (۲,۴۵۵ ملیارد ډالره) انکشافي بودجې لپاره تخصیص شوي دي. په انکشافي بودجه کښې د مرسته ورکونکو ونډه، ۲۲,۱۲۹ میلیارده افغانی یعنې (۳۵۱ میلیون ډالره)، د اختیاري بودجې په توګه، ۱۳۲,۵۵۳ ملیارده افغانی (۲,۱۰۴ میلیارده ډالر) غیر اختیاري مرسته، او ۳,۸۳۹ میلیارده افغانی (٦١ میلیونه ډالر) د پور په بڼه ورکول شوي دي. د ۱۳۹۴ کال په پرتله، د ملي بودجې په چوکاټ کښې د مرسته ورکونکو ملاتړ ۲ سلنه زیاتوالی ژمنه په ګوته کوي چې مبلغ یې ۱۳۹۴ کال کښې ۳۰۲,۷۵۳ میلیارده افغانی (۵,۳۱۱ میلیارده ډالر) ژمنه شوي وه.[۲]

[۲] بيا هم د يادونې وړ ده چې د ۱۳۹۵ کال ارقام په امريکايي ډالر بدل شوي اصلا د افغانی د قيمت د را لويدلو له امله ټيټ دي.

## ۲،۲ د ۱۳۹۵ کال اټکل شوي تخصیصات

۱،۲،۲ جدول: د سکتور پر بنسټ د ۱۳۹۵ کال اټکل شوی تخصیص

| شمیره | سکتور | په (میلیون) افغانۍ | | | ټوله فیصدي | د عادي بودجي فیصدي | د انکشافي بودجي فیصدي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عادي بودجه (OB) | انکشافي بودجه (DB) | مجموعه | | | |
| ۱ | امنیت | 181,272.235 | 1,691.028 | 182,963.263 | 40% | 64% | 1% |
| ۲ | زیر بنا او طبیعي منابع | 5,922.382 | 84,264.461 | 90,186.843 | 20% | 2% | 47% |
| ۳ | ښوونه او روزنه | 37,441.937 | 22,148.432 | 59,590.370 | 13% | 13% | 12% |
| ۴ | کرهنه او د کلیو پرمختیا | 2,080.101 | 30,388.509 | 32,468.610 | 7% | 1% | 17% |
| ۵ | روغتیا | 2,959.532 | 23,464.007 | 26,423.540 | 6% | 1% | 13% |
| ٦ | ټولنیز خوندیتوب | 21,282.233 | 1,700.090 | 22,982.323 | 5% | 8% | 1% |
| ۷ | حکومتداری، د قانون حاکمیت او بشري حقوق | 13,950.696 | 3,310.391 | 17,261.087 | 4% | 5% | 2% |
| ۸ | اقتصادي او خصوصي سکتور انکشاف | 2,990.351 | 10,599.553 | 13,589.905 | 3% | 1% | 6% |
| ۹ | نورې برخې | 15,423.926 | 945 .000 | 16,368.926 | 4% | 5% | 1% |
| | **مجموعه** | **283,323.395** | **178,511.474** | **461,834.870** | | | |

۲،۲،۲ شکل: د سکتور پر بنسټ د بودجې ویش




### عادي بودجه

د ۱۳۹۵ کال لپاره وړاندیز شوي عادي بودجه ۲۸۳،۳۲۳ میلیارده افغانۍ (۴،۴۹۷ میلیارده آمریکایي ډالره) ده، چې د وړاندیز شوي ملي بودجې ٦۱ سلنه برخه تشکیلوي. د پولي نظره، عادي بودجه ۱٦۳ میلیونه افغانۍ (۲،۵۹ میلیون ډالره) د ۱۳۹۴ کال په پرتله کمه شوې ده، چې په عمومي توګه ثابته پاته ده. چې په عمومي بودجه کښې د ۱۳۹۴ کال په نسبت ۴ سلنه کمه ونډه څرګندوي. د بودجوي کودونو پر بنسټ، د ۱۳۹۵ کال لپاره ۵۷ سلنه عادي بودجه د معاشونو او تنخواه ګانو (۲۱ کود)، ۲٦ سلنه د اجناسو او خدماتو (۲۲ کود)، ۴ سلنه د ملکیتونو د استملاک (۲۵ کود)، او ۱۳ سلنه د احتیاطي کودونو لپاره تخصیص شوې ده.

### انکشافي بودجه

د ۱۳۹۵ کال لپاره وړاندیز شوي انکشافي بودجه ۱۷۸،۵۱۱ میلیارده افغانۍ (۲،۸۳ میلیارد ډالره) ده، چې د وړاندیز شوي ملي بودجې ۳۹ سلنه برخه تشکیلوي. د پولي نظره، انکشافي بودجه ۲۵،۸۲۵ میلیارده افغانۍ (۴۱۰ میلیونه ډالر)، د ۱۳۹۴ کال په پرتله زیاته شوې ده، چې دا زیاتوالی ۱۵ سلنه دی. چې په عمومي بودجه کښې د ۱۳۹۴ کال په نسبت ٦ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. له دې جملې څخه ۱۳٦،۳۹۳ میلیارده افغانۍ (۲،۱٦۴ میلیارده ډالر) د غیرې اختیاري پروژو لپاره دي چې د انکشافي بودجې ۷٦ سلنه تشکیلوي. له دې جملې څخه ۴۲،۱۱۸ میلیارده افغانۍ (٦٦۸،۵۴۱ میلیارده ډالر) د اختیاري پروژو لپاره دي چې ۲۴ سلنه برخه جوړوي. دا مقدار د ۱۳۹۴ کال د انکشافي په پرتله په غیر اختیاري بودجه کښې ۰،۸ سلنه کموالی او د انکشافي بودجې په اختیاري برخه کښې ۳۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. دا څرګندوي چې مرسته ورکونکو ادارو په ملي بودجه کښې د دولت د ملاتړ په خاطر او د انکشافي بودجې په اختیاري برخه کښې زیاتوالی رامنځته کړی.

## ۲,۳ د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو د بودجو پرتله کول

۱,۳,۲ جدول: د بودجې تخصیص او لګښت پرتله کول

| سکتور | د ۱۳۹۵ او ۱۳۹۴ کلونو تخصیصات به (میلیون ها) افغاني | | | د ۱۳۹۳ او د ۱۳۹۴ د بوجې مصرفول | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو د عادي او انکشافي بودجي تر منځ توپیر | | د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو تر منځ د مجموعي بودجي توپیر | د عادي بودجي د لګولو فیصدي | | د انکشافي بودجي د لګولو فیصدي | | د ۱۳۹۴ او [3]کلونو د بودجي د تطبیق تر منځ توپیر[1] | |
| | عادي بودجه | انکشافي بودجه | | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ | عادي بودجه | انکشافي بودجه |
| امنیت | -9,829.084 | 636.224 | -9,192.860 | 65 | 60 | 8 | 52 | -5 | +44 |
| زیر بنا او طبیعي منابع | -372.868 | +20,705.767 | +20,332.898 | 70 | 89 | 33 | 33 | +19 | - |
| ښوونه او روزنه | +1,385.842 | +1,969.769 | +3,355.612 | 83 | 85 | 34 | 33 | +2 | -1 |
| کرهنه او د کلیو پرمختیا | +172.022 | -9,247.418 | -9,075.396 | 82 | 86 | 62 | 64 | +4 | +2 |
| روغتیا | -60.399 | +7,982.590 | +7,922.192 | 82 | 84 | 50 | 44 | +2 | -6 |
| ټولنیز خوندیتوب | +1,453.632 | +450.899 | +1,904.531 | 89 | 92 | 21 | 33 | +3 | +12 |
| حکومتداری، د قانون حاکمیت او بشري حقوق | +807.692 | +130.365 | +938.057 | 84 | 86 | 9 | 37 | +2 | +28 |
| اقتصادي او خصوصي سکتور انکشاف | +98.299 | +2,251.736 | +2,350.036 | 78 | 91 | 33 | 33 | +12 | - |
| نورې برخې | +6,181.926 | +945 .000 | +7,126.926 | - | - | - | - | - | - |
| **مجموعه:** | **-162.938** | **+25,824.932** | **+25,661.996** | **69** | **68** | **36** | **40** | **-1** | **+4** |
| | | | | | | | | | |

۱,۳,۲ جدول د د ۱۳۹۴ – ۱۳۹۵ ترمنځ د بودجې د تخصیص توپیر، او د مختلفو سکتورونو له لوري د ۱۳۹۳-۱۳۹۴ کلونو د بودجې د لګښت د توپیر اندازه (د هر کال د نومبر د میاشتې په دریمې اونۍ کښې د مقایسې په موخه) په ګوته کوي. په امنیتي برخه کښې تخصیص لږ شوی دی، او دا سکتور څرګندوي چې د عادي بودجې د لګښت له نظره په نسبي توګه ضعیف وو او د تیر کال دا مهال په نسبت یې ۵ سلنه کم لګښت درلود. همدارنګه د یادونې وړ ده چې په امنیتي سکتور کښې د بودجې لګښت ٦٠ سلنه وه، یوازې د دفاع وزارت ۴۷ سلنه لګښت درلود. دا په داسې حال کښې ده، چې د امنیتي سکتور د بودجې په لګښت کښې یو د پام وړ بنه والي ښکاري، تر ۴۴ سلنې پورې چې دا لګښت تیر کال دا مهال ۸ سلنه وه، په داسې حال کښې د ۵۲ سلنې لګښت تر یوې اندازې پورې ضعیف او د امنیتي سکتور د بودجې یوه کمه برخه تشکیلوي. همدارنګه د کرهنې او کلیوالې پرمختیا په برخه یو لږوالی لیدل شوی دی، او په بله هره برخه کښې تخصیص زیاتوالی موندلی دی. سره له دې چې په تیر کال کښې د عادي بودجې عمومي لګښت د اجراآتو سره سمون درلود، د امنیتي برخې پرته په هره برخه کښې بهبود شتون درلود. په ورته توګه، د انکشافي بودجې په تطبیق کښې یو څه نا څه ښه والی را منځته شوی، چې په امنیتي، د حکومتولۍ سکتور، او ټولنیز خوندیتوب په برخه کښې دا ښه والی د پام وړ وه .
په دې ارقامو کښې کله چې د پاته مالي کال لګښتونه ور سره جمع شي ښه والي راشي، اجراآت په ټولیزه توګه کم دي، ځکه چې د بودجې لګښت د عادي بودجې په نظر کښې نیولو سره اوس یوازې ٦٨ سلنه او د انکشافي بودجې لګښت ۴۰ سلنه دی. د ۱۳۹۴ کال په ځیر، کله چې انکشافي بودجه ۹۴ سلنه او عادي بودجه ۵۱ سلنه ده نومبر د میاشتې په دریمه اونۍ کښې تخصیص شوی وي، چې د ۱۳۹۳ کال همدا مهال عادي بودجه ۹۴ سلنه او انکشافي بودجه ۵٦ سلنه تخصیص شوې وه، دا په ګوته کوي چې د سکتوري وزارتونو په ظرفیت او د مالي وزارت له لوري په توزیع کښې لږ ښه والي راغلی دی.

# ۳. مالي ثبات

په یو نا څرګنده اقتصادی چاپیریال کښې د ۲۰۰۱ کال څخه را په دې خوا د لاسته راغلو پرمختګونو د ساتنې لپاره مالي ثبات، په ځانګړې توګه د دولت د ټولو لګښتونو په نظر کښې نیولو سره او د ملي بودجې څخه د باندې مرستو چې یې وړاندوینه شوې ده د ۲۰۱۳ کال د ۵۵ ٪ نا خالص داخلي تولید (GDP) څخه تر ۲۰۱۸ کال کښې ۴۰ سلنې ته را ټیټ شي. [۳] په ۲۰۱۴ کال د افغانستان دولت، افغانستان دولت د لندن په کنفرانس کښې د لوړو لوړو اصلاحاتو وړاندیز وکړ، "پر ځان د بسیا کیدو درک"، چې د نورو موضوعاتو تر څنګ یې دا ژمنه کوله چې د افغانستان د جوړښت لپاره باید داسې بنسټ کیښودل شي چې د افغانستان د مالي پاېښت سبب شي - په ځانګړې توګه د داخلي عوایدو لوړول تر څو ۵۰۰ میلیونو ډالرو هغه مالي کمښت چې په ۲۰۱۴ کال موجود وه له منځه یوسي. [۴] لس میاشتې وروسته د لوړو پوړو چارواکو یوه غونډه چې آجندا یې د "پر ځان د بسیا کیدو درک" رامنځته کول وه حکومت ځانته (B +) درجه ورکړه. د ۲۰۱۵ کال په جون کښې، د نړیوال پیسو صندوق د پروګرام نظارت یو هیئت (SMP) په جوړولو موافقه وشوه، چې پلان یې داسې وه چې دا پروګرام به په یو درې کلن پروګرام بدل کړي تر څو په ستر دولتي اقتصاد، بانکي سکتور، په تعرفې او نقدو پیسو د مالیاتو لوړول؛ او د بودجې مدیریت، او په قانون کښې د اصلاحاتو د رامنځته کولو له لارې خصوصی سکتور ته وده ورکول شامل دي د جوړښتونو له نظره اصلاحات رامنځته کړي. د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر د میاشتې د راپور پر بنسټ، د پروګرام نظارت هیئت، و ویل چې پرمختګ په سم لور روان دی، په څلورو سترو بانکونو کښې د اصلاحاتو پروګرام روان دی چې ډیر ژر به د نړیوالو حسابي او مدیریتي سیستم سره برابر شي او د تقاعد په سیستم کښې اصلاحات تر لاس لاندې دي.

د داخلي عواید سربیره، د مالي پاېښت څخه د ډاډ تر لاسه کولو بله کړنلاره د منځمهاله بودجې جوړولو کړنلاره ده. دولتي اسناد څرګندوي چې د مالیې وزارت د ۱۳۹۱ کال راهیسې د منځمهالې بودجې چارچوب (MTBF) د عامه مالي چارو او لګښتونو مدیریت (PFEM) د ۲۰۰۵ کال د قانون سره سم ایجاد کړی دی، چې له هغې جملې څخه د منځمهالې بودجې چارچوب یوه درې کلنه دوره (۱۳۹۵-۱۳۹۷) تر پوښښ لاندې نیولې ده. د منځمهالې بودجې چارچوب موخه داده چې یوې مقدماتي بودجې یوه مسوده تیاره شي تر څو د راتلونکي کال او منځمهال لپاره د بودجې موجودې پالیسۍ او د مالي اړتیاو نوی لمړیتوبونه و ارزوي. په اوسني حالت کښې د منځمهالې بودجې چارچوب د ستر اقتصاد او تحلیل او تجزیه، د کلي ارقامو وړاندوینه او تجزیه او تحلیل، د عوایدو او لګښتونو تجزیه او تحلیل، د سکتوري لګښتونو تجزیه او تحلیل شامل دي. دا د منځمهالې بودجې شپږم چارچوب چې د مالیې وزارت له خوا، ترتیب شوی، یوازې په انګلیسي ژبه د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کښې شته.

د منځمهالې بودجې چارچوب د هغو ستونزو تشریح چې د افغانستان اقتصاد له هغه سره په ۱۳۹۳ کال لاس او ګریوان وه، او دا خبره په ګوته کوي چې د هغه اغیزې ۱۳۹۴ ته هم لیږدول شوي دي. دا سند وړاندوینه کوي چې د ۱۳۹۵ – ۱۳۹۷ پورې به اقتصاد مثبت وي، اما په ورو توګه د ۱۳۹۳ کال څخه وروسته اقتصاد رکود خوا ته ځي. په ۱۳۹۳ کال کښې رښتوني اقتصادي وده ۲,۱ سلنه وه، او د منځمهالي بودجې چارچوب پروژې چې په ناخالص داخلي تولید ولاړې دي په ۱۳۹۴ کال به د ۴ سلنې څخه کم وي چې په ۱۳۹۵ کال کښې به دا اندازه۵,۱ سلنې ته لوړ شي، او د منځمهالي لرلید د ۵-۶ سلنې پورې ده، چې د ټیټې ودې سوابق ښکاره کوي، بلکه د افغانستان د لیږد پړاو په وضعیت کښې چې پر بهرنیو مرستو ولاړ دی داسې یو لور ته لاړ شي چې هیواد په داخلي عواید و ودریږي. [۵] د مالي پاېښت د ډاډ تر لاسه کولو لپاره نورې لارې لکه د حفظ او مراقبت پوره بودجه، د ملي بودجې په برخه کښې د اختیاري بودجې صلاحیت به هم د بحث لاندې و نیول شي.

## ۳,۱ داخلي عواید

په ۱۳۹۴ کال کښې د عواید عمده برخه د ګمرکاتو مالیاتو او نورو مالیات له لارې، لکه فیسونه (۲۶,۱۹۹ میلیارد افغانۍ)، پر عوایدو مالیات (۱۷,۴۱۴ میلیارد افغانۍ) په اجناسو او عواید عمومی مالیات (۹,۰۸۷

---

[۳] د افغانستان د بیارغونې د مالي صندوق، مالي ستراتژی ۱۳۹۴-۱۳۹۶ کال (۲۰۱۷)

[۴] د افغانستان د اسلامي جمهوریت په خپلو پښو دریدو لپاره د افغانستان د کړنلارې نقشه، ،سپتمبر ۲۰۱۵ کال

[۵] د افغانستان د اسلامي جمهوریت ، د بودجه مقدماتی سند ۱۳۹۵-۱۳۹۷(۲۰۱۵) کال

میلیارده افغانۍ) څخه جوړه شوې وه. په نورو منابعو کښې اداري فیسونه (۱۱،۰۴۴ میلیارد افغانۍ)، متفرقه عواید (۹،۰۸۷ میلیارد افغانۍ) او ثابت مالیات (۸،۷۱۰ میلیارد افغانۍ) کیږي. هغه منابع چې لږ عواید لري هغه د تقاعد برخه ( ۳،۴۷۹ میلیارده افغانۍ)، د اجناسو خرڅلاو او خدمات (۳،۸۲۵ میلیارده افغانۍ)، د د ملکیتونو څخه عواید (۲،۳۴۲ میلیارده افغانۍ)، نور مالیات، (۳،٦۲۹ میلیارده افغانۍ)، د خرڅلاو مالیه (۱،۰۲۹ میلیارده افغانۍ) په ملکیتونو مالیه (۰،٦۸۲ میلیارده افغانۍ)، جریمې (۰،۷۳۳ میلیارده افغانۍ)، استخراجي صنایع ( ۰،۴۴۵ میلیارده افغانۍ)، د ځمکو او تعمیراتو پلورل (۰،۰۲۲ میلیارده افغانۍ).

د ۱۳۹۳ کال د اقتصادي رکود څخه وروسته، په ۱۳۹۴ کال کښې داخلي عواید ۵ سلنه د مالي کال لپاره د دولت د ټاکلي هدف څخه په ۱۳۹۳ کال کښې د اټکل تر وروستي حده پورې کم شوي وو، او په پورتنۍ برخه کښې د هدف لوړ حد ۵ میلیارده ته رسیدلي. د منځمهالي بودجې چارت په نظر کښې نیولو سره، په ۱۳۹۴ کال کښې (۱۰) ملیارده افغانۍ د نوو مالي اقداماتو، له هغې جملې څخه په سوداګرۍ کښې د زیاتوالی اندازه (BRT)، اعتباری کارتونه، د سونګ د موادو لګښتونه، هوایي ترانسپورت عواید او تعرفه کښې د زیاتوالی له امله زیات شوي دي. په هر حال، همدارنګه دې ته اشاره شوې چې چې ډیر نوي اقدامات د یو زماني محدودیت په توګه - د طیارو د مالیاتو او تعرفو پرته – هغه د ولس مشر د یو فرمان په واسطه د ملي شورا د رخصتیو پر مهال تصویب شو او د یوې میاشتې په موده کښې د ملي شورا تصویب ته اړتیا لري، چې د عوایدو د راټولو له نظره د ۱۳۹۴ کال د منځمهالي بودجې چارت د یو بې باوره حالت سره مخامخ کیږي [6]. د منځمهالي بودجې چارت د ۱۳۹۵ کال لپاره د ۲۷ سلنه داخلي عواید اټکل کوي، او د دې اټکل لپاره د ۱۳۹۳ کال بودجه یو اساس ګڼل شوی دی، مګر په عوایدو کښې به د ۱۳۹۴ کال کښې ٦ سلنه زیاتوالی رامنځ ته شي کله د ۱۲۰ میلیاردو افغانیو مقدار پر هغه ور زیات شي. [7] په داسې حال کښې چې په ۲۰۲۰ کال کښې د دولت ۱۵،۹ سلنه عوایدو وده [8] هیله رامنځته کوي غیر واقعبینانه ښکاري د ماليې وزارت یو کارکونکی وایی چې د دولت کوښښونه د داخلي عوایدو د لوړتیا لپاره د بیلا بیلو عواملو پر بنسټ لکه د امنیت د نشتون، په ولایتي سطحه د ظرفیت موضوعاتو

او د سترو شرکتونو نا سم کارونو له امله د مالیاتو په سمه توګه نه راټولیدل اغیزمن نه معلومیږي.

په هر حال، د لوړ پوړو چارواکو غونډې دا په ګوته کوي چې "په خپل ځان بسیا کیدو درک" د اصلاحاتو د یوې برخې په توګه، د مالیې وزارت کوښښ کوي تر څو د عوایدو د راټولولو لپاره کوټلې ګامونه پورته کړي. د ګمرک پولیسان مالیې وزارت ته انتقال شوي دي، او د دولت د مالیاتي سیستمونو اساسي موډلونو چې په واحد ډول د اداره شوی مالیې سیستم له لارې په بشپړه توګه په لویو دفترونو کښې په کابل کښې عملي او تر ډیرې کچې د کوچنیو مالیه ورکونکو په دفترونو کښې په کابل، بلخ، هرات، ننګرهار، کندز او کندهار کښې تطبیق شوي دي. له دې سیستم څخه د داخلي عواید د څارنې او ساتنې لپاره کار اخستل کیږي. د مالي وزارت د کارکونکو او عامه مالي چارو د مدیریت کارپوه په وینا په اوسني حال کښې ډیر دا ډول اصلاحات په ۲۰۱۵ کال کښې د داخلي عواید د بهترۍ او سمون په خاطر صورت نیولی دی. په دې کښې پر خطر ولاړه د مطابقت د یوې ستراتژۍ معرفي چې موخه یې جنجالي مالیه ورکونکي شامل دي نه د هر چا تفتیش او همدارنګه په نهایي پړاو کښې د دولت د کمپیوټري مالیاتي سیستم تطبیق، په یو معیاري سیستم باندې د مختلفو ولایاتو څخه د لاسته راغلو عوایدو ممکنه کړنلاره تر لاسه شوې ده. په هر حال، یک یوه سیستماتیکه او همدارنګه پر ممکنه عوایدو څارنه د راټولو شو عوایدو پر وړاندې لیږې خبره ده چې د دولت یا مالیه ورکونکو په کار کښې شامل شي. د عامه مالي چارو د مدیریت د یو کارپوه او د مالیې وزرات د لوړ پوړو چارواکو د منځمهالي بودجې د دوهم چارچوب یادونه نه ده کړې.

د مالیاتو څخه د لاسته راغلو عوایدو د زیاتوالي لپاره، د علاوه شوو ارزښتونو مالیه پلان شوې وه چې په ۲۰۱۴ کال کښې د آی ایم ایف د معیارونو سره سم د افغانستان لپاره تطبیق شي او بالاخره د ملي شورا له خوا په ۲۰۱۴ کال کښې تصویب شوې ده. [9] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اټکل کړی چې پر علاوه شوې ارزښت باندې مالیات وړاندې شوې دي، چې کیدای شي د موجود (BRT) پر ځای، چې څه نا څه ۷۰۰ میلیونه ډالره د دولت ابتدایي عواید په ۲۰۱۵ کال کښې د ناخالص ملي تولید په توګه رامنځته کیږي او اټکل شوی دی [10] او احتمالا به د ۲۲/۲۰۲۱ کال په تولید کښې د ۱ څخه د ۲ سلنې پورې

[6] هماغه ځای

[7] هماغه ځای

[8] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، پر خپلو پښو ودریدو پر لور: د انتقال د لسیزې لپاره ستراتژیکه دیګاه، ۲۰۱۲.

[9] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د اضافي ارزښت مالیې قانون د تطبیق تیاری، اپریل ۲۰۱۴ کال، دا سایټ په د نومبر په ۱۷ ۲۰۱۴ کتل شوی دي

[10] سترنلیب، "ناکافي پیسو د افغانستان ثبات د خطر سره مخ کړی دی،" د انکشاف لپاره او امنیت لپاره نړیواله مجله. ۳ شماره. ۱، ۲۰۱۴.

په ناخالص تولید کښې زیاتوالی رامنځته کړي.[11] په هر حال، دا به دوهم ځل وي چې په علاوه شوي ارزښت مالیه لا د مخه د دولت د نه آمدګۍ له امله ځنډیدلې ده –[12] پارلمان یوازې ټیټه اندازه یعنې ۵ سلنه د علاوه شوې ارزښت مالیه منظوره کړه چې د ۲۰۱٦ کال دسمبر کښې به د اجراء وړ وګرځي، مګر په هغه صورت کښې چې دولت په قانون کښې تعدیلات رامنځته کړي او د هغه تطبیق و ځنډوي[13] د عامه مالي چارو د مدیریت د یو کار پوه په وینا، پر علاوه شوي ارزښت مالیات په حقیقت کښې د عواید د لاسته ته راتلو یوه منفي نتیجه ده اما کیدای شي بیا د علاوه شوي ارزښت د مالي لپاره د ممکنه سازګارۍ د ګټې له نظره مهمه وي (یعنې د علاوه شوي ارزښت د مالیاتو له لارې به حکومت و کولای شي چې د شرکتونو او د هغوی د خرڅلاو په اړه یو لړمعلومات راټول کړي).

یوه ستراتژي چې بشپړ انکشاف یې نه دی موندلی او دا چانس لري چې د حکومت د مالیي بنسټ قوي کړي هغه خصوصي سکتور وده ده. د افغانستان د خصوصی سکتور یوه مطالعه دا څرګندوي چې په دغه ساحه کښې لږ پرمختګ صورت نیولی دی.[14]

د افغانستان دولت او نړیوالې مرسته کونکي ادارې د خصوصي سکتور د ودې لپاره ژمنې کړي چې د کوچنیو او متوسطو تصدیو د ستراتژیو له لارې چې په ۲۰۱۱ کال کښې تطبیق شوي دي، چې له هغې جملې څخه د تجارت او صنایعو وزارت په چوکاټ کښې د کوچنیو او متوسطو تصدیو ریاست جوړول شامل دي، تر څو د خصوصي سکتور وده و هڅوي. د مارکیت د ودې یوه نوې پروژه هم په هماغه کال کښې د خصوصي سکتور د بیا را ژوندي کولو لپاره په څلورو مهم ښاري حوزو کښې وده ورکول شوه. د دې کوښښونو سره سره بیا هم، راپور دا نتیجه تر لاسه کوي چې د خصوصي سکتور په وده کښې پرمختګ رامنځته شوی نه دی، او د هغه لپاره یې ځینې توضیحات هم ورکړي دي. یوه هر اړخیزه ستراتژیک چوکاټ چې په هغه کښې د خصوي سکتور د کار په اړه یو روښانه تقسیمات هیڅکله شتون نه درلود؛ دولت په اخلاص د خصوصي سکتور تر منځ د سیالۍ ملاتړ نه کوي؛ نړیوالې ټولنې یوه نامنظمه طرحه په کار اچولې او په اغیزمنه توګه یې د وابستګۍ د یوه موډل د ترویج سره مرسته کړې؛ د دولتي او غیر دولتي فعالینو تر منځ همغږي ډیره محدوده ده. په تجارت او نوو فعالیتونو کښې د پانګونې او په خپل ځان د باور د یو راتلونکې شاخص د نوي شرکت د ثبت مدارک د خصوصي سکتور د ملاتړ د ودې لپاره کافي دي. د هغو شرکتونو چې نوي ثبت شوي دي د ۲۰۱۲ کال په پرتله تقریبا ۵۰ سلنه کم شوي دي او د ۲۰۱۵ کال د لمړیو شپږو میاشتو په حالت کښې باقي پاته دي.[15]

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وینا د عواید یو بل امیدوار کونکی جریان د کانونو څخه لاسته راځي، چې تمه کیږي، په ۲۰۲۰ کال کښې[16] د ٦۵۰ میلیون ډالرو څخه ډیر عاید او د ۲ څخه تر ۳ سلنې پورې د ناخالص داخلي تولید په ۲۰۲۱-۲۰۲۲ کال کښې رامنځته کړي.[17]. په هر حال، په ۱۳۹۴ کال کښې د کانونو څخه لاسته راغلي عواید مایوس کونکي دي، داسې وړاندوینه شوې چې په پرله پسې توګه په دریم کال کښې تقریبا ۳۰ میلیون ډالر تر لاسه شي، چې د ۱٫۵ میلیارده ډالرو د وړاند وینې څخه ډیر کم دي. د کانونو او پټرولیومو د وزیر په وینا، دا رقم یوازې د هغه رقم د یو پر څلورمې برخې سره چې قاچاقبرانو ته د یاقوتو او زمرودو د خرڅلاو له درکه لاسته ورځي برابر دی. وزیر دا نیمګړتیا د کانونو د سکتور د مدیریت او کنترول د ماتې په معنا بولي، او اعلان یې وکړ چې په اوسنیو شرایطو کښې دا ډیره سخته ده چې سرې و وایي چې افغانستان په حقیقت کښې کولای شي له دې سکتور څخه د ګټې تمه ولري.[18] څیړنو پر دې سربیره ښودلې ده چې، شرکتونه علاقه لري چې کانونه استخراج کړي چې تمه کیږي د اوږدې مودې امکانات او د افغانستان لپاره عمومي انکشافي ګټې د هغو زیرمو قرارداد هغوی ته ورکړي.[19] د پنځو کانونو د لاسه وتلي عواید، د عواید د امکاناتو په تناسب، په کال کښې د ۵۰ میلیونو څخه ډیر یوازې د عوایدو د دوه مجراګانو څخه (د امتیاز حق او د ځمکې اجاره).[20] د عوایدو د لاسه ورکولو برسیره، څیړنې نور هم دا په ګوته کوي چې د کانونو غیر قانوني استخراج د وسله والو مخالفینو د بیلګې په توګه طالبان، چې په افغانستان کښې د حکومت ثبات ګواښوي[21].

[11] نړیوال بانک، افغانستان د انتقال په پړاو کښې: راتلونکي ته نظر، ۲۰۱۴، ۲۰۱۳.

[12] اکونومیست، د دولت عواید د ټاکل شوي هدف څخه لږ دي، د فبرورۍ ۱۳، ۲۰۱۵ کال.

[13] آی ایم ایف، د هیواد ۱۴۰/۱۵ راپور، ۲۰۱۵ کال.

[14] (SIPRI) د افغانستان خصوصي سکتور: وضعیت او د حل لارې. ۲۰۱۵.

[15] نړیوال بانک، د افغانستان د انکشاف په اړه تازه معلومات، اکتوبر، ۲۰۱۵.

[16] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د په ځان د بسیا کیدو پر لور:د انتقال د لسیزې لپاره یوه ستراتژیکه دیګ، ۲۰۱۲.

[17] نړیوال بانک، افغانستان د انتقال په پړاو کښې: راتلونکي ته نظر، ۲۰۱۴، ۲۰۱۳.

[18] الطاف نظیف زاده، طالبان افغانستان نیسي، یو تریلیون ډالر د کانونو له لارې، بلومبرګ بزنس، د اکتوبر ۲۱، ۲۰۱۵.

[19] جاوید نوراني، د افغانستان د کانو په سکتور کښې رابرسیره کیدو ثروت، د امریکې د سولې انستیتیوت. جنوري، ۲۰۱۵.

[20] هماغه ځای.

[21] د افغانستان لپاره څارونکي اداره، د پالیسۍ سند: په افغانستان کښې پایښت لرونکي انکشاف: څه نتیجه ورکړې؟ او څه نتیجه نه ده ورکړې؟ او ولې؟ د افغانستان د تحلیل او تجزیې شبکه، ۲۰۱۵.

[23] سیګار، د تفتیش راپور: د افغانستان کانونه، د نفتو او ګاز صنایع، اپریل، ۲۰۱۵.

د مختلفو مرسته کونکو د پانګې اچونې سره سره بیا هم، د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی مفتش (SIGAR) وروستی راپور کښې راغلي دي چې د کانونو د سکتور صنعت د مدیریت له پلوه له ډېرو ستونزو سره مخ دی. د ځېړنو لپاره د کانونو او پټرولیمو د وزارت تخنیکی ظرفیت، نوي قراردادونه د بهرني ملاتړ پرته مدیریت او سپارل د امریکې د دولت، افغان دولت او د روڼتیا د ادارې له نظره د یو نیمګړتیا په توګه شتون لري. د کانونو او پټرولیمو د وزارت د چارواکو ظرفیت نه دی په متوسط او لوړه پیمانه مناقصې تنظمی او سروکار ورسره ولري یعنې د "پیل تر پایه" خپله د کانو او پټرولیمو د وزارت پواسطه په خپله په ولایتي سطح ناقصې او له فساده ډکې دي، د ادارې ظرفیت نه لري. فساد همدارنګه د یوې تل پاته موضوع په توګه د عواید د راټولو په برخه کښې شتون لري. په داسې حال کښې چې ځېړونکي توضیح کړې ده چې د ګمرکی عوایدو یه برخه کموالی د ۲۰۱۱-۱۲ کال د اقتصادي ودې د کموالي او ټیټه کچه ګمرکي وارداتو سره تړاو ور کړو، همدارنګه دا هم معلومه شوې ده چې یوه د پام وړ برخه باید د فساد سره تړاو ورکول شي، ځکه ځینې حسابونه دا په ګوته کوي چې فساد په دواړه برخو کښې منظم او پراخه دی [۲۲].

دولت د فساد د مخنیوي نوښت عملي او د کانونو او د صنعت او بالقوه عوایدو په اړه یې د یو شمر قوانینو د طرح کولو لاره نیولو چې دې قوانینو کښې به د کاني موادو پر صنعت تجدید نظر و شي چې په دې منظور په ۲۰۱۴ کال کښې د کانونو د استخراج یو چارچوب ایجاد کړی دی. دا قانون، په هر حال، په دې اړه ځینې بررسی شوې دي. [۲۳] د مدني ټولنې یو ځارونکي د ځینو تعدیلاتو غوښتنه کړې تر څو په قرارداد ونو کښې نور شفافیت رامنځته شي، د ګټو په مقرراتو کښې روښانه کشمکشونه، د عدم انطباق په صورت کښې ښه مجازات، د ټولنې زیات ګډون او منازعاتو اغیزمن حل و فصل[۲۴]. هغه چارچوب، چې په اوس مهال د ایجاد په حال کښې دی، کوښښ کوي چې د استخراج په برخه کښې یو شمیر پورتنیو یادو شوو ستونزو ته د یو لړلید د تطبیق له لارې چې په هغه کښې د ټولنې ګډون، د کاروبار د طی مراحلو کښې اصلاحاتو، چاپیرال ساتنې او د عوایدو ښه مدیریت شامل دي د حل لاره پیدا کړي، مګر په دې اړه تفصیلات لا په روښانه توګه نه دي طرحه شوي. [۲۵]

[۲۴]ویلیام بیارد، په افغانستان کښې اقتصادي مدیریت: : څه نتیجه ورکړې؟ او څه نتیجه نه ده ورکړې؟ او ولې؟ د افغانستان د تحلیل او تجزیې شبکه، ۲۰۱۵.

[۲۵]جاوید نوراني، د افغانستان د کانو په سکتور کښې رابرسیره کیدو ثروت، د امریکې د سولې انستیتیوت. جنوري، ۲۰۱۵.

[۲۶] Idem.

[۲۷] UKAID,PowerPoint entitled "افغانستان: د استخراج د صنعت شبکه،۲٦ آګست، ۲۰۱۵.

په خپل ځان متکي کیدو په لار کښې د سپتمبر د میاشتې د کاري پرمختګ د راپور له مخې، د ګمرګ او عواید څانګو هر اخیزه اصلاحاتو باندې کار کړی چې په هغو کښې په رهبری او مدیریت کښې د بدلونو، د بشري منابعو په مدیریت کښې اصلاحات، د طرزالعملونو ساده کول چې راتلونکې او مقصد لرونکي شي، او د سیستم د آتومات کولو موضوعات شامل دي. د مالیې وزارت د ګمرک د پولیسو کنټرول په خپل لاس کښې اخستی دی، د ترانزیتي نقلیه وسایطو د پلټنو وسایل یې په کار اچولي دي، په برښنایي توګه یې د حامد کرزی په نړیوال هوایي میدان کابل کښې په امتحاني بڼه پیل کړي دي، او د پلټنو یو کمیسیون یې جوړ کړی دی چې د لوړ پوړو کارکونو د اروزنې لپاره یې د ۹ ولایاتو څخه لیدنه کړې ده. [۲٦] د عواید د راټولولو لپاره نور هڅونکي نوښتونه هم تر سره شوي دي او همدارنګه امنیتي ځواکونو ته د ګمرک او مالیاتو د قانو سره سم ځینې انعامونه ورکول شوي دي. [۲۷] دولت همدارنګه راپور ورکړ چې دولت د فساد پر وړاندې د کوښښونو د تنظیم ساده کول او د فساد د غبرګونو ادارو د شتون د مخنیوي مخنیوي لپاره کار پیل کړی دی – په عمده توګه لویه ځارنوالي او د ځارنې او فساد پر وړاندې د مبارزې عالی اداره - په د اسې حال کښې چې لویه ځارنوالي د فاسدو چارواکو تعقیب او ځارنه کوي.[۲۸]

## ۳,۲ عملیات او حفظ و مراقبت

عملیات او حفظ و مراقبت به په ۱۳۹۵ کال کښې د دولت پر وړاندې یو مهم ګواښ وي. د ۱۳۹۵-۱۳۹۷ کلونو منځمهالي بودجې ترتیبولو چارچوب دا معلومه کړې ده چې عملیات او حفظ و مراقبت به په بودجه کښې یو عمده لګښت لرونکي کار وي، ځکه ډېری شتمنی او ملکیتونه چې په تیرو ۱۵ کالو کښې د مرسته کونکو تمویل او حفظ او مراقبت شوی دی. د دې شتمنیو د مراقبت مالي تامیناتو مسئولیت اوس په تدریج د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د انتقال په حال کښې دی، چې پر بودجه د پام وړ مالي فشار زیاتوي. دې مسئلې ته د حل لارې پیدا کولو لپاره، حفظ او مراقبت د افغانستان د بیارغونې د مرستې صندوق (ARTF) له لارې صورت نیولی دی، چې په ۱۳۹۲ کال کښې د

[۲۸]د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، پر خپل ځان بسیا کیدو کړنلاره، سپتمبر، ۲۰۱۵.

[۲۹] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، پاور پوانټ د ۱۳۹۵ مال ملي بودجې مسوده: د ادارو د مشرانو غونډه، د نومبر ۲۴، ۲۰۱۵.

[۳۰] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، پر خپل ځان بسیا کیدو کړنلاره، سپتمبر، ۲۰۱۵.

يوې امتحاني پروژې په بڼه د عامه شتمنيو حفظ او مراقبت د هڅونې په منظور په عمومي توګه په عَمومي ساحو کښې په کار واچول شو چې په هغه کښې د ښوونې او روزنې، روغتيا او ښاري او کليوالي زيربناو په برخه کښې د لګښتونو کښې د ښه والي لپاره يوه هڅونکي مرسته شامله وه، ملاتړ شوی دی. د حفظ او مراقبت د اسانتياو په چوکاټ کښې، څلور وزارتونو - ښوونې او روزنې، روغتيا، فوايد عامې او د ملکي هوا نوردی اداري د حفظ او مراقبت او د شتمنيو ثبتولو پاليسی ايجاد کړي دي چې د حفظ او مراقبت په برخو د ۲۰۱۲ ال را په دې خوا د حکومت په لګښتونو کښې لړوالی راغلی دی.[۲۹] د افغانستان د بيارغوني د مرستې صندوق د تطبيق اساسي دورهڅونکي آسانتياوې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په مياشت کښې، چې هغه کښې په ټوليزه توګه ۹۹,۵ ميليونه ډالر ورکول شوي پای ته ورسيده. دې پروګرام دا په ګوته کړه چې دا سهولتونه تر يو ځايه برياِلي شول، چې يوازې ۷۵ سلنه اختصاص شوې بودجه عملا تاديه شوه، او څرګنده يې کړه، چې د حفظ او مراقبت لپاره په مالي تاميناتو کښې نواقص شتون لري [۳۰].

د حفظ او مراقبت پاليسي، چې د حفظ او مراقبت د اسانتياو سره په مطابقت کښې جوړه شوې وه، داسې پلان کړي ده چې د ټولو بودجوي واحدونو لپاره د ۱۳۹٦ کال تر پايه دا بهير بشپړ کړي. چې په دې کښې د نړيوال بانک د پروګرام هڅونکی مشارکت، د حفظ او مراقبت د يوې پاليسي جوړول او تطبيقي پلان، د شتمنيو د ثبت بشپړول، د لګښتونو روښانه انځور، په منظمه توګه مالي راپور ورکول او د حفظ او مراقبت د لګښتونو د اجراآتو راپور او د ټو کلونو بودجوي لګښتونه شامل دي.[۳۱] پر خپل ځان د متکي کيدو د کړنلارې د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر د مياشتې د کاري پرمختګ راپور له مخې، د ماليې وزارت معلومه کړه چې پلان ډير پراکنده او غير واقعی وه او پر حفظ او مراقبت باندې د پانګونې سره ډيره علاقه موجوده وه [۳۲].

په ۲۰۱۳ کال کښې، آيساف اټکل کړی و چې پوځي تاسيساتو او تجهيزاتو د حفظ او مراقبت لپاره به هر کال ۳,۵ ميليارد ډالره مالي ذخاير په کار وي.[۳۳] دا لګښتونه به د ودانيو ترميم، د وسايلو لګښتونه، او په ټول هيواد کښې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) په قرارګاه ګانو د پوليسو په ماموريتونو کښې منظم عمليات، شته او نوي پلان شوي تجهيزات چې تهيه کيږي، ترميمات او يو څه متفرقه لګښتونه تر پوښښ لاندې نيسي. تر څو د غير اميتي ادارو حفظ او مراقبت وشي، د غير امنيتی ادارو د حفظ او مراقبت لپاره د آيساف اټکل د ۱,۳ ميلياره ډالره څخه کم دی. دا رقم يوازې د شتمنيو د ترميماتو لپاره دی.[۳٤] دا همدارنګه يوه دوامداره مالي ستونزه ده، لکه څنګه چې په وروستيو کلونو کښې معلومه شوې ده دا کار ۲۰ سلنه د معاشاتو او ٦۰ سلنه د حفظ او مراقبت څخه پرته نورو غيرِی اړينو لګښتونو ته اړتيا لري، چې دا د عامه مالي چارو د مديريت د پام وړ ضعف په ګوته کوي[۳۵].

# ۳,۳ د بودجې تطبيقول

په ۲۰۱۲ کال کښې د توکيو حساب ورکولو د چارچوب متقابلو ژمنو (TMAF) ته په پام، د بودجې د تطبيق اندازه بايد په ۲۰۱۵ کال کښې ۷۰ سلنه وي. د ۲۰۱۵ کال د نومبر د مياشتې ۱۴ نيټې د بودجې د تطبيق د راپور له مخې چې د څو کلونو د تحليل او تجزيي زمينه برابروي، دا څرګندوي چې عادې بودجه د ټاکل شوي هدف څخه ۵ سلنه کمه لګيدلې ده، په داسې حال کښې چې انکشافي بودجه د ۳۹ سلنې څخه زياته نه ده لګيدلې، چې دا ۵٦ سلنې يو اوسط څرګندوي، چې د ټاکل شوي هدف څخه ۱۴ سلنه ټيټه ده. همدارنګه د يادونې وړ ده چې د بودجې تخصيصات د بودجې د تطبيق اندازې بالترتيب د ۹۳ ٪ څخه تر ۵۵ ٪ پورې د تر پام وړ اندزې لوړ دي.[۳٦] دا د تير کال د بودجې د اجراې د متوسطې اندازې يعنې ۵۴ ٪ سره برابر دي، په داسې حال کښې چې انکشافي او عادي بودجه د تطبيق اندازه کم و زيات يو شان ده. د تير کال په څير، سږ کال د بودجې د تطبيق ټيټه اندازه سږی کولای شي په اړوند وزارتونو او د ماليې وزارت په سطحه د ظرفيت مسائلو [۳۷] او همدارنګه د هغه مهال د سياسي شخړو سره تړاو ور کړو.

يوه بله موضوع چې د عامه مالي چارو د مديريت د يو کارپوه په واسط PFM ياده شوې د ټاکل شوې بودجې څخه ډير لګښت دی، چې اړوند وزارتونه د بودجې د تخصيص د منابعو په برخه کښې د د پروګرام د

[۳۱]نړيوال بانک، د افغانستان د بيا رغونې د مرستې صندوق امتيازي کارت، ۲۰۱۴: د جامعو اجرااتو او مديريت چارچوب، ۲۰۱۵.

[۳۲]د افغانستان د بيا رغونې د مرستې صندوق، شپږ مياشتينی راپور، ۲۱ دسمبر، ۲۰۱۴ څخه تر ۲۱ جون، ۲۰۱۵ پورې.

[۳۳]د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د حفظ او مراقبت د پاليسی مسوده، تاريخ نه دی معلوم.

[۳٤]د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، پر خپل ځان بسيا کيدو کړنلاره، سپتمبر، ۲۰۱۵.

[۳۵]نړيوال بانک، افغانستان د انتقال په پړاو کښې: راتلونکي ته نظر، ۲۰۱۴، ۲۰۱۳.

[۳٦] Idem.

[۳۷]ويليام بيارد، په افغانستان کښې اقتصادي مديريت: : څه نتيجه ورکړې؟ او څه نتيجه نه ده ورکړې؟ او ولې؟ د افغانستان د تحليل او تجزيې شبکه، ۲۰۱۵.

[۳۸]د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د تطبيق راپور ۱۴-۲۰۱۵,۱۱، ۲۰۱۵.

[۳۹]ماري هوبر او مارتيز ريد، د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې خپلواکه کتنه. ۲۰۱۴.

ستونزو د وړاندوینې په هکله د انحراف سره مخ کوي، څکه چې د ولایاتو تر منځ د بودجې انتقال، پروګرامونه او کودونه لا تر اوسه د مالیې وزارت، ملي شورا او/یا د مرسته کونکو ادارو منظورۍ ته اړتیا لري. د نتایجو لپاره د ظرفیت لوړتیا ساده کول او په دې وروستیو کښې د منظور شوی ولایتی بودجې پالیسي په ممکنه توګه کولای شي دې موضوعاتو ته د لیاقت پر بنسټ پر دندو د ګمارلو او اغیزمنې پلان جوړونې کښې د ښه والي د رامنځته کولو او د ولایتي چارواکو څخه د ګډ کار او د هغوی د سپارښتنو د تر لاسه کولو له لارې د حل لاره پیدا کړي.

## ۳٫٤ د مرسته کونکو ادارو ونډه او د لزوم دید صلاحیت

د همکاریو د انکشاف د خبرو اترو غونډې (DCDs) هر کال د ۲۰۰٦ کال څخه را هیسې صورت نیولی تر څو په تیر کال کښې د هر مرسته کونکي لاسته راوړنې و ګوري او د ملاتړ راتلونکي ساحې د بحث لاندې و نیسي. سږ کال، د مالیې وزارت د جولای په میاشت کښې اعلان و کړ چې دا کار د مرسته کونکو څخه د تر لاسه شوو معلوماتو چې د انکشافي همکاریو په کلني راپور کښې به چې د مرستو د تنظیم د ریاست له لورې خلاصه شي د ۲۰۱۵ کال د آګست د میاشتې په ۲ نیټه پیل او تمه ده چې د سپتمبر د میاشتې تر لمړیو وختو پورې به دوام و مومي.[۳۸] په هر حال، په دې اړه هیڅ نوی راپور نه دی ورکول شوی چې آیا دا غونډه تر سره شوې، او په ۲۰۱۲ کال کښې هیڅ نوی راپور د عامو خلکو په خدمت کښې نه دی ورکول شوی.

د افغانستان ملي بودجه په داسې شکل ترتیبیږي چې د دولت د ملي بودجې په ترتیب کښې د اساسي بودجې له لارې کنترول لري او د مرسته کونکو له لورې کنترول شوې مرسته د ملي بودجې څخه بهر ده. د افغانستان روان انتقال سره سره چې دا اتکاء د مرسته کونکي څخه په خپل ځان د مالي مدیریت د بسیاینې پر لور روانه ده، په عملي توګه د ۱۳۹۴ – ۱۳۹۵ پورې د بودجې د ملاتړ په برخه کښې هیڅ بدلون نه دی راغلی، بلکه یوازې ۲ سلنه زیاتوالی رامنځته شوی دی. په داسې حال کښې چې د مرسته ورکونکو له لورې دقیق رقم نه دی څرګند شوی، د عامه مالي چارو د مدیریت دو تنه کارپوهانو چې د دې راپور د تایید لپاره مرکې ور سره شوې دي، منلې ده چې د تیر کال څخه راهیسې د مرسته کونکو له لورې د بودجې ملاتړ له ۵۰٪ هدف څخه چې په ۲۰۱۲ کال کښې د کابل په کنفرانس کښې پرېې هوکړه شوې وه، اوښتی دی. په هر حال، هغوی همدارنګه دا هم څرګنده کړه چې دا ممکنه نه ده چې د ملي بودجې ملاتړ به تر دې ډیر زیات شي مګر دا چې د عامه مالي چارو د مدیریت اجراآتو کښې په قوي توګه ښه والی رامنځته شي. د عامه مالي چارو د مدیریت د دې دوه کارپوهانو له نظره، د افغان دولت او مرسته کونکو ادارو تر منځ د بودجې په ترتیب کښې اوسني بحثونه په اضافي اختیاري تمویل تمرکز کوي، په داسې حال کښې چې د مرسته کونکو لپاره د لږو سپارل شو امانتونو د خطراتو او د دولت د جذب د توان څخه ډاډ تر لاسه کول د بحث موضوع ده. اګر چه دولت د مرسته کونکو ادارو نا تړلي او غیر مشخص شوې کمکونو منلو ته ترجیح ورکوی، ډیر احتمالي غوراوي به دا وي چې مرسته کونکې ادارې یا د افغانستان د بیا رغونې د صندوق او یا د پرورګرام پر بنسټ بودجه تخصیص کړي – یو کارپوه وړاندیز وکړ چې دا به د مرسته کونکو تر منځ توپیر رامنځ ته کړي.

په داسې حال کښې چې ۸۷ سلنه اصلي انکشافي بودجه د مرسته کونکو له لورې ورکول کیږي، د دې بودجې یوازې ۱۴ سلنه بودجه د دولت اختیاري صلاحیت ده، پاته ۸٦ سلنه د مرسته کونکي د انکشافي بودجې ملاتړ د نړیوالو مرسته ورکونکو په صلاحیت کښې ده چې د هر مرسته کونکي سره د مشخصې پروژې لپاره د هوکړې پر بنسټ صورت نیسي خو له دې سره بیا هم د دولتي کنترول شوې بودجې په توګه تطبیق کیږي. دا دې څرګندونه کوي چې کله داخلي عواید انکشافي بودجې ته شاملیږي، دولت بیا هم یوازې د ۲۵ سلنې څخه د زیاتې اختیاری بودجې صلاحیت لري. په ډیر احتمال نارسایي لږ تر لږه تر یوې اندازې د دولت او د مالیې وزارت د پام وړ عمومي ظرفیتي محدودیتونو ته نسبت ورکول کیږي. د سولې او ډموکراسۍ د یو شانوالي د موسسې د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشتې څیړنه دا په معلومات په لاس راوړې چې د بودجې د اغیزمنتیا د ښه کولو کوښښونه لکه ولایتي بودجه او ظرفیت لوړول په سادګۍ غیر واقع بینانه دی که چیرې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ملي بودجه کافي اندازه اختیاری صلاحیت و نه لري.[۳۹]

هغه مرکې چې د دې څیړنې لپاره د مالي عامه چارو د مدیریت د کارپوه سره شوې د ډیر اختیاري صلاحیت وړاندیز یې کړی دی – دا به دې پورې اړه ولري چې هغه به څنګه ترتیب شي – کیدای شي ډیره ګټوره وي څکه هغه کولای شي د دولت د ټولې بودجې عمومي مدیریت د

[٤١] مارتیز رید، چک تیسین او ماری هابر، د ښه بودجې جوړول: په پوهنې او عامې روغتیا وزارت کښې د ملي بودجې اغیزمنتیا او وړاندې کول، ۲۰۱۴.

منابعو د آسان تخصیص له لارې تنظیم شي. د عامه مالي چارو د مدیریت د هماغه کار پوه په وینا، اوسنی مروج روش چې د هغه له لارې ترلې مرسته د ولایاتو تر منځ د بودجې انتقال، د پروګرامونو، پروژو کله چې د اقتصادي، سیاسي یا امنیتي ستونزو سره مخامخ کیږي، د دولت توانمندي کموي.

## ۴. دعامه مالي چارو مدیریت او اصلاحات

د عامه مالي چارو مدیریت د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د نړیوالو مرسته کونکو او افغان حکومت د کوښښونو په مرکز کښې ځای درلود، چې په هغو کښې د بودجې ترتیب، محاسبه او تفتیش، په افغانستان کښې د حکومتدارۍ د مدیریت لپاره یو اساسي وسیله ده. د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې د بودجې کلنۍ ارزونه او همدارنګه د نورو څیړنو لاسته راوړنو دا ښودلې ده چې د حکومت له خوا د یو عصری دولتي بودجې د پلان جوړونې د سیستم، د پالیسیو ستراتژیکو اسنادو لکه د عامه مالي چارو د مدیریت لمړۍ او دوهمې کړنلارې (PFMR) او مناسبو محاسبوي میکانیزمونو په کار کښې د پام وړ ښه والی رامنځته شوی دی. [40]

د مالیې د وزارت څوکلن ستراتژیک پلان او د منځمهالې بودجوي چارچوب سره یو ځای، د عامه مالي چارو مدیریت د پالیسۍ یو ستراتژیکه وسیله ده څکه چې هغه غواړي چې حکومت سره د خپلو اهدافو په لاسته راوړلو یعنې په خپل ځان بسیا کیدلو په برخه کښې لاربښونه برابره کړي تر څو په بهرنیو مرستو د هغه اتکاء را ټیټه شي. [41]
دوهم منځمهالې بودجوي چارچوب د مالیې وزارت له خوا په ۲۰۱۵ کال کښې د ملي او نړیوالو ذینفعو سره د مشورو د تر لاسه کولو په ډیرو غونډو کښې ایجاد شوی دی. دا کوښښ د ډیرو مهم ستونزو د حل په خاطر لکه داخلي ناکافي عواید، فساد، د پروژې ضعیفه پلان جوړونه، د حکومتي لمړیتوبونو سره د مرستو او مالي تخصیصونو نا سازګاري په خاطر رامنځته شوي دي. د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره د منځمهالې بودجې دوهم چارچوب په پنځو ستراتژیکو مقاصدو چې ۱۹ نتایجو او ۳۳ تولیداتو باندې تمرکز لري: [42]

- د مالي محدودیتونو سره سره د بودجې سره سمون، ملي لمړیتوبونه او روڼتیا
- د ملي عواید د زیاتوالی تر څو پر خپل ځان بسیاتوب او پایښت را منځته شي
- د یوې با اعتباره بودجې وړاندې کول چې د ملي فرعي ملي ستراتژیو سره سمون و لري
- پر پروګرام ولاړ داسې سیستمونو څخه په استفاده د بودجې د پلان جوړونې، تدارک او تطبیق تر څو خدمات د منابعو، وخت د حساب ورکولو د مقاصدو تر لاسه کولو سره سم عرضه شي
- د څارنې، ارزیابی، تفتیش، حساب ورکولو، محاسبې او روڼتیا په منظور تر څو فساد را کم او عمومي باور زیات شي

د منځمهالې بودجې د مدیریت دوهم چارت څخه د تر لاسه شو تجربو پر بنست، څو نوښتګرو طرحو ته ځای ورکړې شوی دی تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د ذیدخلو مراجعو تر منځ همکاری او مشارکت د نتیجو اتصال ته تحقق ور کړي. چې په دې کښې د پروګرام څارنه او ارزونه، د عامه مالي چارو د مدیریت تقسیم آلاوقات، د مالیاتي پالیسیو تحکیم او پلان جوړونه، د عامه مالي چارو د مدیریت د مسلکي کدرونو رامنځته کول او د ملي لمړیتوبونو سره د مرستو همغږي کول. د مرسته کونکو څخه هم د داسې ملاتړ هیله کیږي چې د منځمهالې بودجې جوړونې د دوهم چارت له لارې د انکشافي پروژو او عامه مالي چارو د مدیریت د اصلاحاتو پر ځای په ملي بودجه کښې شاملو پروګرامونو لپاره مالي مرسته برابره کړي.

د منځمهالې بودجې د مدیریت د دوهم چارت د مالیې د وزیر له خوا تایید شوی او کله چې د مالیې د وزارت له تطبیقي پلان نهایي شي د کار اخستنې لپاره تیار دی. د عامه مالي چارو د مدیریت کارپوه چې د منځمهالې بودجې د مدیریت د دوهم چارت په کار کښې په ټولو پړاونو کښې په کار بوخت وه وایي، چې د پروژې تطبیق به زیات احتمال د

---

[42] مارتیز رید او ماری هابر، د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې د مسودې خپلواکه بیا کتنه، ۲۰۱۴؛ نړیوال بانک، د عامه مالي چارو د مدیریت او حساب ورکولو ارزیابي، ۲۰۱۳

[43] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عامه مالي چارو دوهم کړنلاره، ۲۰۱۵..

۲۰۱۶ کال په لمړیو دریو میاشتو کښې پیل شي. لکه څنګه چې د منځمهالي بودجې د مدیریت د دوهم چارت د دولت د ملي ستراتژیو سره سمون لري، د یادونې وړ ده چې د اقتصاد وزارت (MoEc) اوس مهال د مهمو ستراتژیو د بیارغونو په بهیر کښې په کار بوخت دی تر څو هغه د پایدارو انکشافي اهدافو (SDGs) سره سمون ولري. په یوه پرزنتیشن کښې، یوې بالقوه ستراتژۍ درې غوراوي په ګوته شول: د زریز ي د نیمګړو اهدافو بشپړول، د لمړیتوبونو د ملي پلان پیګیرۍ او د هغه د لاسته راوړنو پر اساس مخ ته تلل، او یا د افغانستان د یوې ملي انکشافي ستراتژۍ ایجاد[43].

## ۴.۱ روڼتیا او حساب ورکول

د دولت راڼه او بنسټیز شوي میکانیزمونه د اغیزمنو عامه کالي چارو د مدیریت لپاره ډیر مهم دي چې د افغانستان خلکو ته ځواب ویونکي وي. دولت د بودجې د ښکاره سروې (OBS) څخه وروسته د پام وړ پرمختګونه کړي دي. د ۲۰۰۸ کال په پر پرتله، دولت اوس د مقدماتي بودجې متن، د یو عام اوسیدونکي بودجه، د کال نیمایي بیا کتنه او د تفتیش راپور خپروي. [44] د دې اسنادو شتون د دولت د روڼتیا او ځوب ویلو لپاره مهم شاخصونه دي، مګر د بودجې د ښکاره سروې – د نړۍ یوازینۍ خپلواک مقایسوي معیار دی - اوس هم د افغانستان نمرې د سیمې د هیوادونو په تناسب "محدودې" دي. د ۱۰۹ شاخصونو پر بنسټ په بودجه کښې د روڼتیا اندازه، د آزادې بودجې د شاخص (OBI) له نظره هر هیواد د صفر څخه تر سلو نمرې اخلي، چې د بودجې د روڼتیا لپاره یوه پراخه اندازه ګیري ده، چې وړاندې شوې ده. د 2015 کال نمره د افغانستان لپاره، د ۱۰۰ څخه ۴۲ ده. چې د ۲۰۱۲ کال څخه ۱۷ امتیازه کمه ده، دا هغې سروې او د نیمایي کال بیاکتنه چې نه ده خپره شوې او د یو هر اړخیزه اجرائیوی بودجوي پشنهاد ته نسبت ورکول شوی دی. د یادونې وړ ده چې د عامه مالي چارو یو کار پوه او د مالیې د وزارت یو لوړ پوړې چاروکي اعلان و کړ چې هوډ لري چې د ۱۳۹۴ کال د نیمایي بیا کتنې خپریدنه د مالیې وزارت کښې د سیاسي بحران له امله نهایي سند مخه نیول شوې ده.

په ۱۳۹۰ کال د ښاروندیانو پورتنۍ یاده شوې بودجه د یوه ښکاره والي او روڼتیا د ژمنې په توګه معرفي شوې ده، او ۱۳۹۴ کښې یو ځل بیا خپره شوه، چې په پشتو، دری او انګلیسی ژبو شتون لري. د ښاروندیانو بودجه د ملي بودجې یوه اسانه شوې نسخه ده چې په هغې کښې د دولت اصلي لمړیتوبونه، د بودجې منابع، تخصیص او لګښتونه، او په مهمو سکتورونو کښې اهداف او مقاصد دي. د مالیې وزارت همدارنګه د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې او د مقدماتي بودجې متن هم خپور کړی دی، یو هر اړخیزه ستراتژیک هدف او د ۱۳۹۴ کال د بودجې لمړیتوبونه، د ستر اقتصاد لرلید، مالي ستراتژي او لرلید، د بودجې اصلاحات، په هر سکتور کښې د لګښتونو تجزیه او تحلیل، د دولت د لمړیتوبونو سرته رسول، په بودجه کښې اصلاحات، ښاروالۍ ګانې، او دولتي شرکتونه – سره له دې چې دا سند یوازې په دری ژبه وجود لري. دا راپور د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کښې شته.

پردې سربیره، په ټول ۱۳۹۴ کال کښې، د مالیې وزارت همدارنګه یوه میاشتینۍ مالي خپرونه (بولتن) د ۲ څخه تر ۷ میاشتې پورې په انګلیسي، پښتو او دری ژبو او همدارنګه د لمړۍ او دومې درې میاشتینۍ مالي خپرونه (بولتن) نشر ته سپارلې ده، خو دا یوازې په انګلیسي ژبه شتون لري. میاشتینۍ راپور د بودجې د مهمو برخو، د عوایدو او لګښتونه خلاصې، د بودجې د تطبیق اندازې، سکتوري تقسیمات، د پیسو منابع او استعمال، د ولایتي عوایدو راټولول، د ولایتي لګښتونو تقسیمات او مالي پایښت څخه عبارت دی. درې میاشتینۍ مالي خپرونه (بولتن) ورته معلومات په ژوره توګه خپروي، او همدارنګه د یو عمومي انځور په توګه ستر مالي وضعیت، پورونه او د مالي منابعو تأمین، او مالي کړکیچ په اړه تازه معلومات او مالي ثبات.

د مالیې وزارت همدارنګه د بودجې د تطبیق راپور د ایکسل فایل په بڼه جوړوي چې د ښکته کولو (ډانلوډ) وړ دی او اونۍ کښې یو ځل د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ را هیسې خپریږي . سره له دې چې داسې ښودل کیږي چې راپور یوازې په انګلیسي ژبه خپریږي خو اصل خبره داده چې په دې سند کښې دري او انګلیسي دواړه شتون لري. دا راپور د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کښې موجود دی. د مالیې وزارت اداري مرستیال دفتر هم د بودجې د تطبیق د څارنې درې راپورونه د ۱۳۹۴ کال په لمړۍ، دوهمه او دریمه ربعه کښې خپاره کړي دي، چې ټول یې په دري ژبه د مالیې وزارت په ویب سایټ کښې پراته دي. د بودجې عمومي رئیس د ۱۳۹۵ کال د بودجې د پلان پاڼه په پښتو، دري او انګلیسي ژبه خپره کړیده ده او همدارنګه یې د ۱۳۹۵ کال د بودجې د

[43] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د پارو پوانټ پرزنتیشن، د انکشافي پایښت اهداف او د افغان ذدولت لمړیتوبونه، ۲۰۱۵.

[44] د بودجې آزاده سروې، د افغانستان په اړه لنډ معلومات، ۲۰۱۵، ۲۰۱۵.

لمړي متحد المال (BC) دستورالعمل خپور کړی دی (دواړه لمړی او دوهم متحد المال) چې په هغه کښې د بودجې تقويم هم شامل وه).

د يادونې وړ ده، چې دولت د ۲۰۱۴ کال په وروستيو کښې د څارنې يو نوی مکانيزم د تدارکاتو ملي ادارې (NPA) له خوا د روڼتيا د ودې سره د مرستې لپاره د افغانستان د عامه تدارکاتي سيستم په چوکاټ کښې وړاندې کړی دی، چې په نتيجه کښې د يو بدلون راغی او هغه دا چې د تدارکاتو د پاليسی د ادارې پر ځای چې د ماليې وزارت پورې مربوطه وه پر ځای يې يوه بله اداره چې د تدارکاتو ملي ادارې په نوم يادېږي او په ولس مشرۍ دفتر کښې ځای لري. د تدارکاتو ملي ادارې د افغانستان د بيارغونې لپاره د سرمفتش فتر او همدارنګه د نورو ملي او نړيوالو ادارو سره د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره کار کوي. د تدارکاتو ملي کميسيون هره اونۍ د ولس مشر غني په مشرۍ غونډه کوي، چې په دغه موقع د تدارکاتو ملي اداره د تدارکاتو ملي کميسيون ته ټول هغه قراردادونه چې د مختلفو وزارتونو له خوا ور ته را رسيدلي دي د بيا کتنې او اقدام لپاره وړاندې کوي. د تدارکاتو ملي ادارې د تدارکاتو په قانون کښې د اصلاحاتو مشري وکړه لکه د ځينو هغو تحريمي اقداماتو تر سره کول چې افرادو او شرکتونو ته د قراردادونو د ور کولو مخنيوی کوي، [45] او همدارنګه د ارزيابۍ کميسيون د وخت محدودول، تر څو د تدارکاتو درخواستونه د دواطلبۍ د اسنادو د سپړولو وروسته ۳۰ ورځو ته را ټيټ کړي. [46] ښکاري چې تر اوسه، د تدارکاتو ملي ادارې د ضايعاتو په پيژندلو کښې تر يوې اندازې بريالۍ وه تر څو د مثالونو پر وړاندې کولو چې د تدارکاتو د ملي ادراې له خوا وړاندې کيږي يوازې د ملکي هوانوردۍ ادارې يوه معامله کښې ۲۰۰ ميليونه ډالر سپما کړي دي. [47] پردې سربيره، د افغانستان پر خپل ځان د متکي کيدو د کړنلارې د کاري پرمختګ راپور، دولت په ټول سيستم کښې (AFMIS) د خريدارۍ موډل تطبيقوي تر څو هغه برښنايي سيستم ته واړوي، کوم به چې ټول عامه تدارکات جبري ګرځوي. [48]

همدارنګه د يادونې وړ ده چې دوه دولتي چارواکي چې مرکې ور سره شوي دي وايي د ماليې وزارت او د ښوونې او روزنې وزارت همدارنګه د بودجې په تطبيق کښې د لنډ مهالي ظرفيت موضوعاتو له امله ځنډ کولای شي.

د ادارې دنده داده چې حکومتي لګښتونو د حسابو ورکولو څخه ډاډ تر لاسه کړي، د تفتيش عالي اداره، هم د قاطعو بدلونو په حال کښې ده. د تفتيش عالي اداره کښې ۳۵ نوې کارکونکي په دندو ګمارل شوي دي، چې تر اوسه يې څلور مربوط وزارتونه په ۲۰۱۵ کال کښې ۶۰ سلنه عمومي لګښتونو حساب تفتيش کړي دي، او معلومه شوې چې د څلور واړو حسابونه د نړيوال بانک د هڅونکي پروګرام د معياراتو سر سم وو. [49] په هر حال، د قطعيه د حساب تفتيش – د حکومت د کال د پاې مالي صورت حساب – داسې معلوميږي چې د تفتيش د عالي ادارې په ويب سايټ کښې د ۲۰۱۳ کال وروستی راپور ځنډولی دی، مګر د عامه مالي چارو د مديريت يو کارپوه ادعا کړې ده چې د دې تفتيش ته په هر حال ادامه ور کول شوې ده. تازه معلومات او ارقام د مربوطه وزارتونو د مطابقت د تفتيش دوام او يا پراخوالی موندل دي، ولی د ۱۳۹۲ کال را په دې خوا هغه د عامو خلکو په خدمت کښې قرار نه لري، چې هغه هم د مربوطه وزارتونو د داخلي تفتيش پر مهال په کار وړل شوې او د تفتيش د عالي ادارې له خواېي ملاتړ شوی دی. [50] د ښوونې او روزنې د وزارت يو لوړ پوړي چارواکي دا يادونه کړې ده چې داخلي تفتيش د هغوی په وزارت کښې يو عادي عمل ګرځيدلی دی.

معلوماتو ته د لاسرسي قانون، د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په مياشت کښې د ولس مشر له خوا لاسليک، چې په هغه کښې نا دولتي موسسې، او خصوصی سکتور هم تر پوښښ لاندې نيول شوي دي. دا قانون ۶ فصله او ۳۲ مادې لري چې بايد د دولتي ادارو په منځ کښې د بې ساری روڼتيا آسانتياوي رامنځته کړي. [51] د قانون سره سم، معلوماتو ته د لاسرسي د څارنې يو کميسيون د جون په مياشت کښې تشکيل شو، چې په هغه کښې د مدني ټولنې غړي هم ګډون لري. [52] په هر حال، معلوماتو ته لاسرسي همدارنګه د يو ځنډ په توګه اوس د بودجې د روڼتياو په برخه کښې شتون لري او همدا چې حکومت د هغه په تطبيق کښې پاته راغلی دی. [53] د افغانستان د ملي امنيت شورا او نور د لوړې سطحې

[45] سيګار، دوهم ربعوار راپور، ۲۰۱۵.

[46] تفصيل په ويب سايټ کښې نه دی موجود، مګر د پوهنې وزارت د چارواکو سره د مرکو پر مهال تاييد شوې وه. ويب سايټ د دريم ډسمبر باندې کتل شوی دی.

[47] وادسم، د تدارکاتو ملي کميسيون ۲۰۰ ميليونه ډالر د خپل کار په جريان کښې د ملکي هوانوردۍ په يوه معامله کښې سپما کړي دي. ۲۸ جون، ۲۰۱۵.

[48] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د خپل ځاند بسيا کيدو کړنلاره، سپټمبر، ۲۰۱۵.

[49] هماغه ځای.

[50] د افغانستان د بيا رغونې د مرستې صندوق، د امتياز کارت، ۲۰۱۴، د جامعو اجرااتو او مديريت چارچوب. ۲۰۱۵.

[51] (ATN)نی، معلوماتو ته د لاسرسي قانون، په افغانستان کښې د ژورناليزم اساسي ستونزې. د سپټمبر ۲۸، ۲۰۱۵.

[52] د افغانستان د څارنې اداره، معلوماتو ته د لاسرسی د څارنې کميسيون تاسيس شو. د سپټمبر ۸، ۲۰۱۵.

[53] احمد شجاع، افغانستان بايد حقوقو ته تحقق ورکړي. د بشر حقوق څارنه، د اپريل ۲۷\۱، ۲۰۱۵.

چارواکو حکم ورکړی دی چې د معلوماتو ته د رسنیو لاسرسی محدود وي او د دفاع وزارت چاړواکو په ۲۰۱۵ کال کښې د مهمو پیښو پر مهال تقریبا یو بشپړ بندیز لګولی دی لکه د بیلګې په توګه د هلمند په ولایت کښې د اپریل د میاشتې شخړه. د افغانستان د چارو څارونکي اداري هم دا ویلې دي چې دا قانون ډیر ضعیف دی، او ۱۰۰ ورته نوعیت لرونکو نړیوالو قوانینو په منځ کښې ٦٦ مقام لري، د مدني ټولنو څو سازمانونو ولس مشر ته وړاندیز کړی دی چې دا قانون په فبروری میاشت کښې تعدیل کړي. [٥٤]

## ۴.۲ پر نتیجو ولاړ پروګرام بودجه ترتیبول، څارنه او ارزونه

پروګرامونو ته د بودجې ترتیبول په ۲۰۱۰ کال کښې معرفی شول اما په عنعنوي بودجه کښې اوس هم داسې ښکاري چې په مربوطه وزارتونو کښې د زوړ سیستم څخه کار اخستل کیږي. د منځمهالې بودجې ترتیبولو دوهم چارچوب واضح کړې ده چې د پروګرام بودجه تر هغې بل پړاو ته نه شي تللی تر څو د کار محصول او نتایج د اجراآتو او ملي مقاصدو ځواب ورکونکي نه اوسي. د افغانستان د چاپیریال سره سم د عامه مالي چارو د مدیریت د قوي او ضعیفو نقاطو، فرصتونو او ګواښونو (SWOT) تجزیه او تحلیل چې په ۲۰۱۴ کال کښې خپور شو، همدارنګه ښودلې ده چې د پروګرام بودجه په شفافیت چاري پر مخ وړي اما نه د خدماتو په وړاندې کولو او وایې چې د نوو د پروګرام د بودجې د ترتیبولو مفاهیم په بشپړه توګه جذب شوي نه دي. دا تحلیل او تجزیه همدارنګه څرګندوي چې د پروګرام د بودجې څخه د ملاتړ نشتون د وزیر او معیین په سطحه په بودجوي واحدونو کښې، په داسې حال کښې چې راتلونکي پړاو لپاره د پروګرام بودجه تر اوسه تحقق نه دی موندلی. [٥٥]

د پروګرام د بودجې جوړولو د بشپړ تطبیق د یوې بلې ستر ستونزې په توګه د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړي چاراوکي له خوا په ګوته شو. دې چاراوکي زیاته کړه چې د بودجې متحدالمال چې د مالیې وزارت ته وړاندې شوی د پروګرام پر بنسټ تقسیم شوی دی مګر دا چې د بودجې هغه پروپوزلونه چې د مالیې وزارت له خوا د بودجې د اوریدلو پر مهال د پروګرام په سطحه نه دي او بودجه یوازې د وزارت په کچه د بحث لاندې نیول کیږي. د مالیې وزارت لوړ پوړي چاراوکي و ویل کله چې د داسې موضوع سره مخ کیږي نو د مالیې وزارت وایي چې د وخت د کمبو سره مخ دي او په عین حال کښې په بشپړه توګه د پروګرام د بودجې د تطبیق ظرفیت نه لري، مګر بل پړاو کښې به کله د مالیې وزارت پروګرام د بودجې تطبیق معرفی کړي دا کار تر سره شي.

د ۲۰۱۴ کال د آګست په میاشت کښې، د مالیې وزارت د څارنې او ارزیابې سیستمونو تطبیق چې په هغه کښې لس وزارتونه او ادارې د نمونې په بڼه په غاړه واخیستل شوې، دا راپور یوازې د مالیې وزارت په ویب سایټ کښې د ۲۰۱۵ کال د جون په میاشت کښې خپور شو. بیا کتنې دا و ښودله چې وزارتونه او مؤسسات په ډیرو بیلو پړاونو کښې د اجراآتو په پلان جوړونه او د څارنې او ارزونې سیستمونه په جوړولو کښې قرار لري. په هر حال، په دې راپور کښې چې په ټولو وزارتونو، اکثرا ستراتژیک پلانونه وجود لري، مګر په عمومي توګه د کلنې پلان جوړونې اجراتو د کتنې لپاره د هغوی څخه کار نه اخستل کیږي، او دا چې د ملي لمړیتوب پروګرامونه په اوسني حالت کښې د هغوي په پلانونو او څارنې کارونو کښې نه دي شامل شوي او د ستراتژیک پلان نتایج د اجراآتو په پلانونو کښې په غیر سالم شکل په دوهم متحد المال کښې وړاندې شوي دي. ټول بودجوي واحدونه (BUS) لا تر اوسه د اجراآتو د څارنې یو چارچوب نه لري، او کوم ځای کښې چې شتون لري هغه د نتایجو د مشخصاتو، شاخصونو، او د منابعو په اړه د وضاحت او د څارنې د اساسي معلوماتو له نظره ډیر ضعیف وو. دې ارزیابی همدارنګه ښودلې ده چې د پروژو ارزونه او انتخاب د وزارتونو او موسساتو په داخل کښې په عمومي توګه خپل کارونه د سیستماتیکو او هوکړه شوو بهیرونو پرته سرته رسیږي او یوازې د پروګرام ستراتژیو سره ډیر لږ پیوند لري. [٥٦]

ارزیابی ښودلې ده چې یوازې د څو پروګرامونو ساختاري او عملیاتي اجراآت د څارنې او ارزونې سیستمونه لري او د معلوماتو د راټولولو او راپور ورکولو بهیرونه په عمومي توګه ډیر ضعیف وو حتی د هغو راپورونو لپاره چې وزارت مالیې ته د دوهم متحد المال د وړاندې کولو پر مهال د محصلې په توګه مشخص شوي وو، چې ورکول شوي معلومات د اعتبار له نظره تر پوښتنې لاندې وو په داسې حال کښې چې د مرسته کونکو له لوري تمویل شوې پروژې د دې نارسایو څخه استثنا ګڼل کیدای شي. د بودجوي واحدونو درې میاشتیني او کلني اجراآتو راپورونه زیاتره

[٥٤] آباسین ظهیر، معلوماتو د لاسرسي قانون باید تعدیل شي. ژورنالیزم، د فبروری ۱۹، ۲۰۱۵.
[٥٥] .د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عامه مالي چارو د وهم کړنلاره، ۲۰۱۵.

[٥٦] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، په وزارتونو او ادارو کښې د څارنې او ارزونې د سیستمونو ارزیابي، آګست، ۲۰۱۴.

وخت په واضح توګه پلان شوي عملیاتي فعالیتونه نه رعایت کوي، او په عمومي توګه په هغه کښې یوازې ډېر تفصیلات روایت شوي پرته له دې چې د پروګرام نتایج او شاخصونه په نظر کښې و نیسي. پر دې سربیره، هیڅ کوم وزارت یا موسساتو د اجراآتو د څارنې کوم معلومات چې پر نتایجو ولاړ د اجراآتو پلان، اساسِ معلومات، او د لاسته راوړنو ارقام شتون نه لري. ارزونې په مجموعي توګه یو مخلوط درک تر لاسه کړی مګر د ادارې په کچه د اجراآتو د څارنې او ارزونې د سیستمونو څخه د لوړو پوړو او اجرائیوي چارواکو په منځ کښې ټیټ درک او ژمنتیا څخه برخمن دي، او د څارنې او ارزونې لپاره یې ډېره لږه بودجه تخصیص کړې ده.

د ټول حکومت په سطحه د نور وړاندیز شوو اجراآتو او د څارنې او ارزونې سیستم (GPMES) چې په ارزیابۍ کښې ترې یادونه شوې ده په لمړیو کښې پلان شوې وه چې د مالیې د وزارت له خوا استعمال شي، مګر عامه مالي چارو د مدیریت د کارپوه په وینا د ولس مشرۍ دفتر په دې وروستیو کښې و غوښتل چې دا مسئولیت په خپله غاړه واخلي. دې ارزیابۍ څرګنده کړې ده چې په دې بهیر کښې لمړۍ مرحله د اجراآتو او د څارنې او ارزونې سیستم ایجاد او بنسټیز کول دي، چې دا پیل کښې د عامه مالي چارو د مدیریت د دوهمې کړنلارې یوه برخه وه مګر بیا د وروستي متن څخه و ایستل شوه کومه چې د مالیې د وزیر له لوري منظور شوې ده. [57] د ۲۰۱۶-۲۰۲۰ کلونو د عامه مالي چارود مدیریت کړنلاره، چې ستراتژي د پاینښت او په خپل ځان د اتکاء لپاره اصلاح کوي، یادونه کړې چې د مالیې وزارت په مشرۍ د څارنې او ارزونې اجراآت او دا چې د بودجې د پراخه تطبیق د پروګرام څارنه، محصلې او نتایج به د مالیې او اقتصاد وزارتونو د ګډو هلو ځلو په پایله کښې رامنځته کیږي. همدارنګه مرسته ورکونکي ټولنه غواړي چې د راپور ورکولو سیستم د انکشافي مرستې د معلوماتو په زیرمه (DAD) کښې ژوندي و ساتي تر څو د روڼتیا ډاډ تر لاسه شي په داسې حال کښې د اجراآتو د مدیریت دله په مرکزي توګه د اصلاحاتو د تطبیق د څارنې او راپور ورکولو مسئولیت پر غاړه ولري.

## ٤،٣ د ولایتي بودجې ترتیبول

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۲۰۱۲ کال د توکیو په کنفرانس کښې ژمنه کړې چې د ولایتي بودجې جوړونې پالیسي به رامنځته کوي، دا په داسې حال کښې ده چې پخوا د ولایتي بودجې ترتیبولو اصلاحات د ناکامۍ سره مخ شوي وو. په ۲۰۱۴ کال کښې، د فرعي –ملي بودجې جوړونې پالیسۍ یوه مسوده ترتیب شوې وه، چې اوس د کابینې له لوري هغه تصویب شوې، او تیره میاشت هر مربوطه وزارت ته لیږل شوې تر څو د راتلونکي کال د اجراآتو لپاره د یو لارښود په توګه وکارول شي. دا پالیسي اهداف، کلي مقاصد او مهم فعالین، د تطبیق ستراتژي ګانې، قانوني چارچوب، د مسئولیتونو ویش، راپور، تدارکات، تادیات او د څارنې او ارزونې کړنلارې طرحه کوي. دا به د ښوونې او روزنې، عامې روغتیا، د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا، او کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارتونو کښې [58] په درې کلنه دوره کښې امتحان کړای شي او د هغو د بریالي تطبیق د مرحلې وروسته به نورو بودجوي واحدونو ته انتقال کړای شي. د دې پالیسۍ هدف دا دی چې د یوې "شفافې، د وړاندوینې وړ، منصفانه ولایتي بودجې جوړونې، چې دا زمینه برابروي چې د ملي پلان او بودجې جوړونې پر مهال ولایتي ادارو ته د ښکته څخه پورته ګډون او مشورې زمینه برابره کړي، او په ملي او فرعي سطحه د اغیزمنو او ګټورو خدماتو د وړاندې کولو آسانتیا رامنځته کړي. [59] د عامه مالي چارو د مدیریت د کارپوه په وینا، د دې پالیسۍ هدف دا دی، چې د محلي حکومتدارۍ د پالیسو سره چې اوس اوس د محلي ارګانونو د خپلواکي ادارې له خوا ترتیب شوي دی مطابقت ولري. دا څرګنده نه ده چې آیا د محلي حکومتونو پالیسۍ به د هغه پخوانۍ اوږدې بیا کتل شوی متن وي چې په ۲۰۱۰ کال کښې خپره شوې وه [60] یا به په بشپړه توګه یو نوې پالیسي وي.

د پالیسیو د تطبیق له نظره، تخنیکي همکاریو او د ظرفیت د لوړتیا ملاتړ به اړوند مرکزي او ولایتي ادارو ته برابر کړای شي. ولایتي ادارو ته به د بودجې جوړولو چارواکي چې د هغوی د وړتیا سره به متناسب وي تیار کړای شی، او مرکزي ادارې به داسې تخنیکي همکاریو ته اړتیا و لري چې پروسې او کړنلارې جوړې تر څو د خدماتو د وړاندې کولو مسئولیتونه ولاتیي ادارو ته ولیږدوي او په ستراتژیو، پالیسۍ او څارنه تمرکز وکړي. د دې کار سرته رسولو څخه، د پالیسۍ هدف په محلي سطحه د عامه مالي چارو د مدیریت د سیستمونو د یو شمیر مهمو لکه روڼتیا، او ضعیفه مشوره او همغږي، په بودجه جوړونه کښې د ولایتي ظرفیت ټیټوالی، د حفظ او مراقبت تمویل، د مسئولیتونو روښانه تقسیم او د بودجې د اغیزمن تطبیق د ستونزو حل دی. دا کار به د پالیسیو د لاندینیو مقاصدو په واسطه تر سره شي:

[57] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عامه مالي چارو دوهمه کړنلاره، سپټمبر، ۲۰۱۵.

[58] آزمایشي وزارتونه په پالیسۍ کښې نه دي یاد شوي ، مګر د مالیې وزارت لوړ پوړو چارواکو دا تایید کړې دي.

[59] د مالیې وزارت، د ولایتي بودجې پالیسي، ۲۰۱۵.

[60] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د محلي حکومتونو د ادارې پالیسي، ۲۰۱۰.

- د قانوني چوکاټ رامنځته کول تر څو د مرکزي او محلي چارواکو دندې د بودجې په بهیر کښې روښانه شي
- ولایتی تاسیساتو ته د متناسب عامه مالي مدیریت مسئولیتونه او چارواکو پلوي ترڅو یو اغیزمنعامه مالي مدیریت سیستم ته په ټول هیواد کی پراختیا او پرمختګ ورکړي.
- د منابعو د افقی او عمودی تخصیص لپاره د خاص او معیاری کاری چوکاټ رامنځته کول چی هغه به د مساوی خدمتونه د وړاندی کولو مسئولیت پر غاړه اخلی او په ټول هیواد کی د بې وزلی د کموالی سره مرسته کوی.
- د کافی منابعو د اختصاص داډ تر لاسه کول چی د بودجی د لوړ حد اندازه د پروسی په اوږدو کی د معیارونو په آساس شته او نوی شتمنی خوندی او وساتي.
- د بودجې په تیارولو، تطبیق او څارنه کښې د ولایتي چارواکو د ګډون باوري کول.
- د مرکزی او ولایتی تاسیساتو او تمویل کوونکو په منځ کی اړیکو او همغږی ته وده او پرمختګ ورکول ترڅو روڼتیا، ځواب وینی او مالی نظم ته زیاتوالی ورکړی او موازی بودجی تشکیلات/ پروسی له منځه یوسی.
- د بودجی د تدوین او تطبیق په پروسه کی د خدمتونو د وړاندی کولو نتایجو او استخدام تمرکز کول.
- د بودجوي احصایو او شکلونو د (خپرولواو تکثیر ) او ذیدخلو مراجعو ته د راپور ورکونی په پروسو کښې ساده والی رامنځته کول.

نوی تاسیس شوی اداري به د پالیسیو همغږي او تطبیق څخه ډیر ملاتړ وکړي. د مالي عدم تمرکز کاري ډله به د مالیې په وزارت کی تاسیس شي او هره میاشت به ځواب ووایی تر څو د اصولو د تطبیق په پرمختګ باندی د ولایتی بودجی د قطعی د چارواکو د پلاوو سره بحث وکړی، د خزانې عمومي رئیس، د بودجې عمومي رئیس، د طرزالعمل عمومي رئیس، د محلي حکومتونو خپلواک ریاست او د ښوونی او روزنی مرکز. د عامه مالی موضوعاتو مدیریت ولایتی کمیټه به هم په هر ولایت کی تاسیس شی ترڅو د ولایتی ریاستونو او مربوطه وزارتونو په منځ کی اړیکو او همغږی ته وده ورکړی. دا غړی به د مستوفیانو چی د کمیټی رئیسان دي، د والی د دفتر پلاوی، د اقتصاد ریاستونه، د ښځو چارو او د مستوفیت د بودجی د یوه کارپوه څخه تشکیل شوي وي.

دا پالیسی په ښکاره توګه د بودجی د چارواکو د نه پاملرنې په خاطر یو جوړښت او پروسه طرحه کوي او دا ژمنه کوي چې پروسه به ډیره عامه شموله وښایي، مګر د چارواکو د نه پاملرنې له نظره د بودجې د تطبیق په مرحله کښې چې د کودونو، پروژو، او پروګرامونو تر منځ پیسې انتقال کړي، وجود نه لري. دا پالیسی یادونه کوي چی د خزاینو عمومی رئیس به شته طرزالعملونه اصلاح کړي او د بودجی د تطبیق میکانیزم به د بودجی عمومی رئیس سره په همغږی ایجاد کړي. د مالیې وزارت د یو لوړ پوړی چارواکی سره مرکه داسی وړاندیز کوي چی د چارواکو نه پاملرنه به عملا د بودجی په پلان جوړونې او پروسه باندې تمرکز وکړي نه د هغې په تطبیق. د یادونې وړ ده چې د ولایتي بودجې د تطبیق په پخوانیو کوښښونو کښې د پالیسی او طرزالعمل تر منځ د یو روښانه اړیکې شتون نه درلود. دا هڅې د ولایتي حکومتي جوړښتونو کښې پر پیچلو موضوعاتو د غلبې نشتوالي، د قانون د حکم له مخې د کنترول د یو مرکزي سلوک حاکمیت، او په ملي بودجه کښې د اختیاري بودجې صلاحیت لړ والی او داسې نورو دلایلو له امله بریالی نه وي.[٦٢] دا پوښتنه اوس هم لانحله پاته ده که چیرې د بودجې اوسنی منظور شوي ولایتي پالیسي بریالی شي نو دا باید معلومه شي چې پخوانۍ پالیسي ولې ناکامه شوه.

## ٤،٥ د جندر چارو ته ځواب ویونکي بودجې ترتیبول

د جنډر د دوامداره نا یوشانوالی درک، او د هغوی پایلې، جنډر ته ځواب ویونکي بودجه په ۱۳۹۰ کال کښې په افغانستان کښې د بودجې د پالیسی د اصلاحاتو په بنه و پیژندل شوه. د مالیی وزارت د جنډر ځوابی بودجه په ۱۳۹۰ کال کښې د یو امتحاني طرحې په توګه په افغانستان کښې د پالیسی اصلاحاتی بودجی په ډول مطرح او وپیژندله. شپږو وزارتونه د جنډر ځوابی بودجی د نوښت د آزمایلو لپاره غوره شوی وو چی په هغه کښې د ښووني او روزنې، د عامې روغتیا، د کرهنې اوبو لګونی او مالداری، د لوړو زده کړو وزارت، د کار او ټولنیزو چارو او شهدا او معلولینو وزارتونه شامل دي. د ۲۰۱۵ کال د می په میاشت کښې د سولې او ډموکراسی لپاره د یوشانوالي موسسې د جنډر ځوابی بودجې د اصلاحاتو بیا کتنه وکړه، د هغوی موجود جوړښتونو او میکانیزمونو تر څو د جنډر ځوابی بودجی د اغیزمن تطبیق ملاتړ کړي، او په ۱۳۹۴ کال کښې د جنډر ځوابی بودجی الحاق د بودجی پلان جوړونه د جنډر ځوابی بودجی د امتحاني وزارتونو له خوا ترسره کیږي.

که څه هم ملی ستراتیژی لکه د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان شته، د سولي او ډموکراسی لپاره د یوشانوالي موسسی بیا کتنی د پالیسی او کارې طرز تر منځ یو روښانه پیوند نشته. د میرمنو او جنډر یوشانوالی په اړه په هر سکټور کښې پراخه ژمنې او پلانونه ایجاد شوي دي، مګر عملا یو څو خپله لاره د بودجې پلان جوړونې، تطبیق، یا د ارزونې بهیر کښې پیدا کړې ده. پر دې سربیره، د بودجې په ارزونه کښې استعمال شوي شاخصونه په پراخه پیمانه د جنډر حساسیت په پام کښې نه لري. هغه بهیر چې ملي بودجه ترتیبوي د جنډر د ځواب ورکونکي بودجې اغیزمن رعایت، او اوس غیر اغیزمن میکانیزمونه شته تر څو د جنډر تحلیل او تجزیه او وهڅوي او ملاتړ یې کړي او د جنډر د ځواب ورکولو په اړه د ملي بودجې د حساب ورکولو نشتوالی ډاډ نه تر لاسه کوي.

دې بیاکتنی دا هم و موندله چی د ډیرو دولتی چارواکو د جنډر ځوابی بودجې د پوهې کچه تر اوسه پوری هم کمه ده. لا تر اوسه پوری د پوهی او ظرفیتونو شرایطو ته په کتلو سره د جنډر ځوابی بودجه د بودجې جوړونې په ټول بهیر کښې او په ټولو پروګرام جوړونو او بودجوي تصامیمو کښې جدی نیمګړتیا شتون لري ترڅو د بودجې په پوره پروسه کښې او په ټولو پروګرام جوړنی او بودجه یی پریکړی اغیزمنې کړی.

د جنډر ځواب ویونکي بودجې د امتحاني وزارتونو د تحلیل او تجزیې پر بنسټ د دوهم متحد المال وړاندې کول د جنډر له نظره، دا واضح شوې ده چې د پروګرام توجیه کول له دې اړخه چې هغوی څنګه جنډر ته پاملرنه لنډه او مبهمه او په عمومي توګه د جنډر د پروګرام او د هغه ممکنه اغیزو د تحلیل او تجزیه نه منعکسوي. هیڅ کوم شاخصونه چې د پروګرام په دې سطحه وړاندې شوي دي د شرایطو او د جنډر د حساسو موضوعاتو شاخصونو (GSIs)، او هغه شاخصونه چې ډیرو کړو ژمنو ته انعکاس نه ورکوي چې د جنډر د یو شانوالي په اړه په هر سکټور کښې د ټولو ملي او مشخصو سکټورونو په پالیسیو او ستراتژیو کښې شوې دي. په وزارت او د پروګرام د کارکونکو په منځ کښې د جنډر د یو شانوالي د پلان جوړونې په اړه داسې وړاند وینې موندلې دي چې د جنډر په برخه د پراخه نیمګرتیاو د کمولو لپاره هیڅ پلان نه دی جوړ کړی.

په څو وزارتونو کښې، د جنډر اړوند د دوهم متحد المال ځینې برخې او یا ټولې برخې خالی پاتی وی. ځینو بیا د هغو د ګټی اخیستونکو د جنډر اړوند تقسیمات، او یا په انکشافی پروژو کښې د میرمنو د ونډې د سلنی برخه اټکل شوې نه ده. پر دې سربیره، حتی په کومو ځایونو کښې چې اټکلونه وړاندې شوي، په څو مواردو کښې وزارتونو هم راپور ورکړی چې هغوی د جنډر اړوند معلوامات / ارقامو کوم تقسیمات نه دی کړی چی دا خپله د اټکلونو پر صحت باندې شک پیدا کوي. دا روښانه نه ده چې څرنګه دا ارقام د څارنې د سیستم په نشتون کښې د ګټه اخستونکو په اړه د معلوماتو راټولول اټکل کړې چې د جنډر لپاره حساب پرې و شي.

په ټولیز ډول، د بیا کتنې په پایله کښې اساسي لاسته راوړنو د دوامداره کوښښونو اړتیا ته ګوته نیولې تر څو د جنډر ځواب ویونکي بودجه په افغانستان کښې بنسټیزه کړي او د جنډر بیا کتنی مهمو لاسته راوړنو ته ادامه ورکړل شي او د هغو هڅو اړتیا ته یې اشاره وکړه چې په افغانستان کښې د جنډر ځواب ویونکي بودجې کښې د اصلاحاتو اسانتیا را منځ ته کړي.

دی بیا کتنی هم په عموم ډول په ټولو وزارتونو کښې د جنډر تیاری ټیټه کچه یاده کړې ده. په پراخه کچه د منابعو، موادو، او د کمښت، د جنډر او جنډر ځوابی بودجې په اړه د منابعو، موادو او روزنو پراخ نشتون د پام وړ دی. د جنډر د ځواب ویونکي بودجې په اړه په ټولو وزارتونو کښې د وزارت په کچه د پالیسی او ستراتیژی نشتون او تخنیکی ملاتړ او سیستمونو ته لاس رسی چی د جنډر تفکیک شوي د معلومات راټولولو ډاډ تر لاسه کړي چی هغه د جنډر ځواب ویونکي بودجې د پریکړی کولو ملاتړ کوي وجود نه لري. د جنډر ځواب ویونکي بودجې د تطبیق لپاره سیاسی اراده دیره ټیټه ده، او لاسته راوړنو دا تایید کړې ده چې جنډر ته ځواب ویونکي بودجې باندې زیات تمرکز د بهرنیو مرسته ورکونکو له خوا صورت نیسي، هر څومره کار چې د جنډر د پالیسیو او ستراتژیو د جوړولو لپاره شوی د بهرنیو مرستندویانو، مشاورینو او بهرنیو فعالینو له لورې تر سره شوی دی.

جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د عملي کولو د اغیزمنتیا لپاره د سازماني جوړښتونو او کاري چلند په برخو کښې د پام وړ خنډونه شتون لري. د جنډر زیات شمیر واحدونه د کارکوونکو له کموالي، د مالی کموالي سره مخامخ دي او همدارنګه د تکړه او تجربه لرونکو کارکونکو شمیر یې کم دی او د جنډر ډیر کم شمیر واحدونه د بودجې په پروسه کښې شاملیږي، او یا هم د دوی له ډلې ډیرو لږو ته مشوره ورکول کیږي. همدارنګه، د ښځو چارو وزارت (MoWA) په ملي بودجه کښې د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د پرمختګ، عملي کولو او څارلو په برخه کښې اوس مهال هیڅ ډول رول نه لوبوي. د مالیې وزارت د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې مخته وړونکو وزارتونو لپاره د بودجې دوهم متحدالمال د یوې

برخې په توګه معرفي کړې چې په هغې کښې یو عمومي کاري چوکاټ برابر شوی چې د جنډر په برخه کښې وزارتونو ته د پروګرامونو د مخته وړلو توضیحات پکې ورکړل شوي. همدارنګه د پایلو ښودونکي هم شته چې جنډر پورې تړاو لري او د ملي ستراتیژیو ته لارښودنه کولي لکه د افغانستان د انکشاف ملي ستراتژي او د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان NAPWA، په وزارتونو کښې د ښځینه کارکونکو د ګمارلو جنسي مساوات، په ګټه اخیستونو کښې د ښځینه ونډې فیصدي، په پرمختیایي پروژو کښې د ښځو د ونډې اخیستنې فیصدي.

د ماليې وزارت د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د عملیاتو ستراتیژیک پلان په ۲۰۱۵ کال کښې خپور کړو. که څه هم ددې ستراتیژیکي پلان پیژندنه یو مثبت ګام دی، خو له عمل څخه واټن لري، ځواب ویوونکي اسناد او تر څنګ یې د هغو موخو په ګوته کول چې له اوسنیو هڅو سره تړاو لري لکه له مرسته کونکو سره همکاري، د یو کار د ترسره کیدو نه مخکې د بودجې په متن کښې د جنډر شاملول او هغو په لیکه کښې وزارتونو ته لارښوني کول تر څو دوی د جنډر د مرکزي نقطو په برخه کښې مشوره ورکړي. د بودجې د عملي کولو او څارنې په برخه کښې د ماليې وزارت ددې ژمنه کوي چې په دوهمې متحد المال کښې بدلون رامنځته کړي او د ۱۳۹۵ مالي کال د بودجې نه مخکې د جنډر په برخه کښې د پایلو اړین راپور پکې شامل کړي. په وزارت کښې د کورنیو همکاریو د کمیټې رامنځته کول، د تخنیکي همکاریو د پراختیا کمیټې (TASC) ته د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې اړوند مسایل وړاندې کول تر څو د جنډر اړوند فعالیتونو څخه اړینه څارنه وشي، د جنډر یا جنسي واحدونو پیاوړتیا، د جندر مساواتو د پراختیا په موخو کښې ونډه اخیستل او د اجراآتو د اداري څار د دې دورې پر مهال او له نا دولتي موسساتو یا موسسو سره شراکت کولو ژمنې ورکوي. دوی د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د تخنیکي ظرفیت د ودې وعده ورکوي چې په هغې کښې د ظرفیت جوړونې د ۳ کلن پلان او د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې لارښود تر څنګ د روزنې د یوه لارښود پیژندنه شامل دي چې په ۲۰۱۵ کال کښې جوړ شوي وه. [٦١]

په پلان کښې د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې په هکله د محدودو معلوماتو ښودنه شوي، د بیلګې په توګه د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د اصلاحاتو د اوسني حالت لنډیز، په دې سند کښې داسې توضیحات ورکړل شوي چې جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د ۱۳۸۸ کال په بودجه کښې د جنډر اړوند مسایل د احتمالي بودجې په برخه کښې رامنځته شوې او له جنډر ته ځواب ویونکي بودجې سره د پروګرام په بودجه کښې د شاملیدو له لارې مالي مرسته کیږي چې د پوهنې وزارت او د کار، ټولنیزو، شهداو او معلولینو د چارو وزارت هم دد ې احتمالي بودجې یا زیرمې نه ګټه اخلي. که څه هم، په اساسي توګه دا له جنډر ته ځواب ویونکي بودجې سره سمون لري چې په هغې کښې د جنسي مساواتو لپاره بیلې بودجې ته پراختیا نه ورکول کیږي او پر ځای یې د جنسي مساوات د ټولې بودجې په پروسه کښې شاملیږي. په ستراتیژیک پلان کښې هم جنډر ته ځواب ویونکي بودجې لړی متحدالمال او د بودجې دوهمې متحدالمال ته ور پیژندل شوې، که څه هم د د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې په کره کتنه کښې داسې ویل شوي چې ثبت شوی جنډر دومره ارزښت نه لري او ستراتیژیک پلان هم د دې ډاډ ورکوي چې د اړوند وزارتونو له خوا وړاندې شوي معلومات د ډاډ وړ نه دي.

## ٤،٦ د مدني ټولنې ګډون

د روان کال په لومړیو کښې د د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې څیړنه د دې وړاندیز کوي چې د بودجې په پروسه کښې د خلکو ګډون د خدماتو وړاندې کولو ته په ښه توګه پرمختګ ورکولی شي، ځکه چې دا بودجه د محلي خلکو د اړتیاو او د موجودو حقیقتونو پر اساس جوړیږی.[٦٢] دې موخې ته د رسیدو لپاره د ماليې وزارت په ۱۳۹۲،۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کلونو کښې د مدني ټولنې لپاره ورکشاپونه تر سره کړي. د افغانستان اسلامی جمهوری دولت په اساس د مدني ټولنو ورکشاپونه د عامه سکتور د ځواب وینې او لید لورو په برخه کښې پراختیا رامنځته کولو او د بودجې د پلان، عملي کولو او د پروسو د څارنې په برخو کښې مدني ټولنې ته د پوهې ورکولو تر څنګ د نږدې والي رامنځته کولو لپاره تر سره شوي وه. که څه هم داسې نه دي ښودل شوي چې داسې ورکشاپ د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې د مسودې لپاره په تر سره شوی وي. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کښې د لوړ پوړو چارواکو په جوړه شوې ناسته کښې چې موخه یې د افغانستان لپاره د ټوکیو په کنفرانس کښې د ابتکاري همکاریو د نوې لړی مخ پر وړاندې وړل وه، د ماليې وزارت پر اساس د مدني ټولنې غړو په دې ناسته کښې ګډون درلود. د غونډې د پایلې په متن کښې هم داسې ویل شوي چې د غونډې

[٦١] موریتس ریډ، چک تییسین او ماري هبر، د ښې بودیجې جوړول: د ملي بودیجې په کافي کمیت کښې مرسته او د پوهنې او عامې روغتیا په وزارتونو کښې لیږدونه، ۲۰۱۴.

[٦٢] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د جنډر د ځواب ویلو د بودیجې د ستراتیژۍ عملي پلان: په ملي بودیجه کښې د *GRB* ګډول، ۲۰۱۵

ګډونوالو د حکومت او مدني ټولنې تر منځ د دوه اړخیزو همکاریو او نږدې والي لپاره د تفاهم د تړون له لاسلیکیدو څخه ملاتړ وښود. [٦٣]

د دغو ابتکارونو سره هم د څرګندې بودجې سروې په ۲۰۱۵کال کښې د دې لاربنودنه کوي چې د بودجې په پروسه کښې د خلکو ګډون ډیر کم وه. د افغانستان نمرې له ۱۰۰ نه د ۲۷ په اخیستلو سره ددې ښودنه کوي چې د بودجې په پروسه کښې د مدني ټولنې او عامو خلکو لپاره موجوده فرصتونه محدود دي. دا نمرې له نړیوال اوسط څخه چې ۲۵ دی لږ څه زیاتوالی لري. د د څرګندې بودجې سروې دا برخه د هغې کچې خودنه کوي چې حکومت د آډټ په اجرایوي، مقننې او قضایي سازمانونو کښې خلکو ته د بودجې په پروسه کښې د ونډې اخیستنې آسانتیاوې برابروي. [٦٤] د څرګندې بودجې سروې وړاندوینه کوي چې د مدني ټولنې ونډې پرمختګ نه دی کړی، دا په داسې حال کښې ده چې د پوهنې وزارت یوه لوړپوړي چارواکي داسې ویلي چې دوی مدني ټولنې ته له ولایتي استازو سره یو ځای په غونډو کښې له هغې وروسته د ګډون بنه راغلاست وایي چې د بودجې زیاته برخه د مالیې وزارت لخوا جوړه شي خو د ده په وینا دغه وزارت هیڅ ډول وړاندیز نه دې تر لاسه کړی.

# ۵. سپارښتنې

د دې کلنې بودجې د بیا کتنې د لاسته راوړنو په نظر کښې نیولو سره د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي موسسه لاندینی سپارښتنې کړې:

## حکومت

### مالي پایښت

کورني عاید:

- د مسودې د نوې کولو په واسطه چې د ختیمیدو نیته یې نیږدې ده او په لومړي سر کښې د جمهوري ریاست په اعلامیه کښې تصویب شوې، د زیاتې شوې تجارتي مالیې، د تیلو مالیه او د کریډیټ کارتونو د مالیو د نوو عایدو د اندازو یو ځای کول.
- د عایدو د پوټنشیل ترسیم او د راټولو شویو عایداتو په وړاندې د عایداتو څارنه د عامه مالي چارو مدیریت د اجنډاء پر اساس، څکه چې دا د دوهم عامه مالي مدیریت له منځمهالی بودجې جوړونې دوهم چارچوب څخه اخستل شوي.
- د کانونو په برخه کښې د ښه شفافیت او ځواب وینې لپاره د مدني ټولنې د سپارښتنو پر اساس د کانونو د قانون کره کتنه او مطالعه او د عایداتي پوټنشیل کچه لوړول.
- د اضافي ارزښت مالیه یا د مالیې زیات شوي ارزښت د عملي کیدلو له ځنډیدو څخه د مخنیوي لپاره د مهالویش پر اساس د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر له میاشتې وروسته د اجراآتو پیل
- د منځنیو او لویو وړاندیزونو د اداره کولو لپاره چې پیل یې پای ولري، د کانونو او پترولیمو وزارت د ظرفیت پیاوړتیا، او داسې لارې چارې په نظر کښې نیول چې اغیزمنتیا ورسره زیاته شي او فساد له منځه یوسي
- د یو داسې مرکزي ستراتیژیک مهالویش رامنځته کول چې د حکومت د بیابیلو واحدونو تر منځ مزدوران و ویشي او په پایله کښې یې د مالیې د کچې لوړولو لپاره خصوصي سکتو پراختیا ومومي او په ځان ډاډه کولو ته پراختیا ورکړي.

عملیات او حفظ و مراقبت

- د حفظ او مراقبت فعالیت او ساتنې د پالیسی په وخت د عملي کولو ډاډ ورکولو لپاره د نوي ټاکل شوي خدمت له پلان سره سم سرته رسول او حفظ او مراقبت ته لومړیتوب ورکول.

[٦٣] موریټس ریډ، چک تیپسین او ماري هبر، د ښې بودیجې جوړول: د ملي بودیجې په کافي کمیت کښې مرسته او د پوهنې او عامې روغتیا په وزارتونو کښې لیږدونه، ۲۰۱۴.

[٦٤] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د لوړو پوړو چارواکو دوهمه غونډه، د غونډې د مشر بیانیه، دسپتمبر ۸، ۲۰۱۵.

[٦٦] د ازادې بودیجې سروې، د افغانستان لنډیز، ۲۰۱۵

## د بودجې لګښت

- د ویش او لګښتونو د پروسو نوي کول په ځانګړې توګه د مرکزي او ولایتي حکومتونو تر منځ د پرمختیايي بودجې په برخه کښې چې دا د بودجې د پروسې د ښه اغیزمنتیا د پرمختګ یوه ښه طریقه بلل کیږي.
- د دې ډاډ لاسته راوړل چې ولایتي چاراوکي د دوی د ظرفیت جوړوني څخه د ملاتړ لپاره د روزنې له لارې د ولایتي بودجوي پالیسی پر اساس لاسته راوړي او د ټاکل شوو زیرمو په ښه توګه د عملي کولو په برخه کښې ښه تخنیکي مرسته له راپور څخه لاسته راوړي.

## نړیواله مرسته او لزوم دیدي صلاحیت:

د حکومت د احتیاطي اختیار د کچې د لوړوالي لپاره له نړیوالو مرسته کونکو سره د حکومت د ظرفیت د جوړنې د حقیقي اټکلونو او د عامه مالي مدیریت د اجراآتو پر اساس خبرې کول، چې دا کار به د زیرمو مدیریت په پرمختګ کښې ښه ونډه ولري.

## د عامه مالي چارو مدیریت او اصلاحات

## روڼتیا او حساب ورکول:

- موجودو ستونزو ته د ځواب وینې په موخه یو عملي پلان جوړول چې د ۲۰۱۵ کال د ازادې بودجې په سروې کښې اړینو اسنادو د رامنځته کولو او د بودجې په پروسه کښې د عامو خلکو ګډون سره تړاو لري
- د ضایعاتو او درغلی پلټلو ته په جدي توګه د ملي ځارنیزې اداري له لارې دوام ورکول، چې تر څنګ یې باید د بودجې په عملي کولو کښې د ځنډ د مخنیوي لپاره د قراردادونو په پروسه کښې ښه والی او بدلون را منځته شي
- د تفتیش لویې اداري د تخنیکي ظرفیت پیاوړتیا چې نا مالي تفتیشونه اجرا کړي چې د خدماتو د وړاندې کولو د عامه لګښتونو به له دې لارې و پلټل شي او موخه به د ټیټ ظرفیت، ضایعاتو او درغلی په نخښه کول وي.

## ځارنه او ارزونه:

- د حکومت د کارونو یو پراخ ځارنیز او ارزونې سیستم جوړول باید تعقیب شي
- له داسې کړنلارو کار واخیستل شي چې له کارونو ځارنه، د پیل معلومات راټولول او د ځارنې او ارزونې د راپورونو پر اساس چې دا آسانه کړي، چې د وزارتونو د ځارنې او ارزونې د سیستمونو له لارې د مالیې وزارت لخوا لاسته راغلي.

## د ولایتي بودجې ترتیبول:

- د دې ډاډ ورکول چې د نوې تصویب شوې ولایتي بودجې پالیسي د ملي حکومت له پالیسی سره په توافق په کار اچول شوې او اوس مهال د محلي ارګانونو د خپلواکي اداري له خوا د مسودې په حالت ده
- په صلاحیت کښې د توجه د کمولو لپاره د بودجې د عملي کولو په پړاو کښې د لا ډیرو تفصیلاتو برابرول د کوډونو، پروژو او یا هم د پروګرامو په منځ کښې د پیسو د لیږد لار برابروي، چې اوس مهال په ولایتي بودجه یې پالیسی کښې شتون نلري.

## د پروګرام لپاره د بودجې ترتیبول:

- د پروګرام د بودجې د کړنلارې په هکله ډاډ ورکول چې د عامه مالي مدیریت له دوهمې کړنلارې د عامه مالي چارو د مدیریت دوهم چارچوب سره سمون ولري او په پایله کښې به یې د اجراآتو په وروستي پړاو کښې له ځنډ څخه مخنیوی وشي او اوس مهال په مالیې وزارت کښې د مسودې په حال کښې ده
- په روښانه او شفافه توګه د پروګرام د بودجې د نظریات روښانولو تر څو اړوند وزارتونه هم له ورته لارو چارو او فورمول کار واخلي

## د جندر چارو ته ځواب ویونکي بودجې ترتیبول:

- جنډر یا جندرت ته ځواب وینه په ملي بودجه او د بودجې د تصویب په پروسه کښې د یوه معیار په توګه شاملول او حسابول
- خپله په حکومت کښې د جنډر په برخه کښې د شته زیرمو په هکله د عامه پوهاوي کچه لوړولو او د جنډر د معلوماتو بیلولو او تحلیل د زیرمو په هکله
- جنډر ته ځواب ویونکي بودجې ته د ورتیا ورکولو لپاره د یوې طرحې جوړول چې په هغې کښې د جنډر د بودجه اعلامیه پراختیا ومومي
- د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې لا زیات ګټه ور عملیات شاملول او د جنډر تحلیل ته په لنډ مهالي بودجوي پلان او د منځمهالي بودجې چارچوب کښې ځای ورکول.
- د بودجې په پروسه کښې د ښځو چارو وزارت MoWA ونډه رسمي کول
- د لومړی بودجې د بودجې لمړی متحدالمال او دوهمې بودجې د بودجې دوهم متحدالمال د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د برخو څیړل د دې لپاره چې د تقدیم شوو موادو په فهرست کښې د لاربښونو شمولیت روښانه او په ډاګه شي او د دې ډاډ ورکړل شي چې هغوی یو ګټور جنډر ته ځواب ویونکي بودجې ته پراختیا ورکړي
- د هر وزارت د جنډر له واحد څخه غوښتنه وشي چې د بودجې متحدالمال لاسته راوړل له ټولو وزارتونو څخه د منلو وړاندې تصویب کړي
- د بودجې په اسنادو کښې جنډر ته ځواب ویونکي بودجې د اصلي پروسې راپور ورکول، چې په هغې کښې د جنډر یا جنډر تحلیل شامل وي، د دې پر ځای چې د دې تشریح پکښې ورکړل شي چې جنډر ته ځواب ویونکي بودجې او د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې اصلاحات څه شی دي
- د څارنې او ارزونې له سیسټمونو څخه بیا ځلې کتنه کول تر څو د دې ډاډ لاسته راشي چې په د معلوماو په زیرمه کښې جنډر ته بیل شوی او په سیسټمونو کښې هغه اړین معلومات برابر شوي او جنډر ته د ځواب وینې لپاره د جنډر تحلیل، د پلان پالیسی او پروګرامونو د هغوی په واسطه ترسره کیدلی شي
- هغه مرسته کونکي او پروګرامونو چې د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې له اصلاحاتو ملاتړ کوي باید خپله توجه د جنډر ته ځواب ویونکي بودجې له عمومي پالیسی د تعهد څخه هغو اصلي مهارتونو، ظرفیتونو، عملیاتو او سیسټمونو ته واړوي چې د جنډر د تفکیک د اړتیاوو، تجربو او په هر پړاو کښې د ټولو بودجو او پروګرامونو د اغیزو په اغیزمنتیا کښې آسانتیا را منځته کوي. پروګرامونه باید د دې ډاډ ورکړي چې برابر شوی ملاتړ د رښتیني ملاتړ په بڼه دی نه دا چې له بهر نه پالیسی، ستراتیژی او سیسټمونو ته پراختیا ورکړي.

## د مدني ټولنې ګډون:

- مدني ټولنو ته د ورکشاپونو، د سلا ورکولو غونډو په ترتیبولو سره او د احصائیې مرکزي اداري ته د خلکو نظریې یا داسې کمیتې جوړول چې د احصائیې مرکزي اداره پکښې ګډون ولري او د بودجې د متحد المال لپاره وړاندیزونه ورکړي، د عامو خلکو ونډې ته د بودجې په پروسه کښې پراختیا ورکوي
- د احصائیې د مرکزي اداري د لیوالتیا معلومول چې د نوي ولایتي بودجې د پالیسی په سیسټم سره یو ځای کیدلی شي.

## نړیوال مرسته کونکي

- د افغان حکومت احتیاطي واک ته وده ورکول چې د افغانستان د بیارغونې د مرستې صندوق یا د پروګرام اړوند برخې په څیر د بودجې د ملاتړ له لارو د پیسو د زیاتولو په واسطه ترسره کیدلی شي. او له دې لارې د نقدو پیسو مدیریت او د بودجو لیږد ته په حکومت کښې پرته له تصویب څخه وده ورکړل شي.
- د پراختیایی مرستندویه معلوماتو زیرمې څخه ګټې اخیستنې ته د شفافیت د ساتلو د موخې لپاره ادامه ورکول چې دا کار افغان حکومت ته د دې اجازه ورکوي چې له بهرنې پراختیایي مرستې په خپل پلان او بودجه کښې شامل کړي او له ضایعاتو او درغلی مخه ونیول شي
- د فساد پر وړاندې د هیڅ ډول تحمل نه کولو پالیسي باید په دواړو اختیاري او غیر اختیاري بودجو کښې غوره شي او

تر څنګ يې بايد د فساد پر وړاندې د دولت له خپل منځيو ابتکارونو هم ملاتړ وشي

- د عامه مالي چارو د مديريت دوهم چارچوب د پلي کولو لپاره مالي او تخنيکي ملاتړ کول چې په پايله کښې به يې رواني ودې ته پراختيا ورکولو تر څنګ هم مالي او هم د ظرفيت خلاوې ډکې شي
- د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت لپاره د اغيزمنې زيربنا او آسانتياو ډاډ ورکول چې په هغه کښې بايد مناسبه يادونه او د حفظ او مراقبت لپاره د حکومت د مالي پلان جوړونه او په غنا سمه توګه اداره شوې پخوانۍ پروژې، د بيلګې په توګه هغه پروژې چې د ولايتي بيارغونې ډلې د پای پر مهال د دولت له پلان څخه وړاندې تسليم شوې وې.

## د مدني ټولنو سازمانونه

- د کلنۍ بودجه، د بودجې د پروسې، د بوديجې اصلاحاتو او د هغو اړينو ستونزو په هکله عامه پوهاوي ته وده ورکول چې عامه مالي مديريت او مالي پايښت پورې تړاو لري
- د احصائيې مرکزي اداره تر منځ او له حکومت څخه د همکاريو له لارې ملاتړ کول، د دې پر ځای چې سلاکار سلوک غوره کړی. چې دا به د اغيزمنې بودجې د جوړولو او ښه حکومت کولو لپاره يو ګډ زيار وي
- له ماليې وزارت او نورو اړوندو وزارتونو سره د بودجې د تيارولو په پروسه کښې نږدې والی رامنځته کول او د خدماتو له وړاندې کولو څارنه کول